GAMMA PUBLICATIONS

ستا د کوم لوظ په داړ اوښکې وچوي ستر ګو نه
چې د بېلتون سلګۍ خندا ته تکه شنه شوه ګرانه!



# لوظ

**سدهېر ساده**




په نامه د الله چې رحمان اؤ رحيم دے

# لوظ

سدهیر ساده

عربستان پښتو ادبي تړون الرياض (سعودي عرب)
خپرؤنه پښتو ادبي ټولنه خادکزو (پښتونخوا)

کتاب زما، نو واکونه ئې هم زما

ستا د ښائست هره خبره لوظ
زما غزل زما سندره لوظ
امن به وی د پښتنو په خاؤره
کوی سحر سپینه کوتره لوظ
ساده! که ښکلو دروغژن ګڼلو
مونږه بیا هم کړلو تر سره لوظ

---


| | |
|---|---|
| کتاب | لوظ |
| لیکوال | سدهېر ساده |
| صنف | شاعری |
| کمپوزنګ | حیات روغانے roghanivision@gmail.com |
| مخپانه | عظیم خان 00966 50 140 8291 |
| اول چاپ | اپریل 2012 |
| شمېر | 1000 |
| بیعه | |

# تـــړون

د پښتون قام په نوم-------

چې د مينې ، امن اؤ ورورولۍ لوظ ئې د سر په بيعه

سر ته رسولو نه هم شنده نۀ ده کړې

# سوغاتــ

سـړې مانۍ ته ،

چې د رياض (سعودی عرب) په خاؤره د پښتنو

ادبی ، نظرياتی ، ثقافتی اؤ فرهنګی ډيره ده..........

# لړلیک

ا..............................لوظ محمدزرین پرېشان
د..........ساده "لوظ" پورې محمد اقبال شاکر
ق..............د لوظزېرے شېربهادر افتاب
ر..................ورومبے لوظ حیات روغانے
ت........باید چې مننه وړوایم سدهېر ساده
1 دعا
2 صلوا علیه واله
3 ما له خوب نهٔ راځی ، زما دعا له خوب نهٔ ورځی
5 دا رنګین ماښام دې را نه نهٔ اخلی
6 هغه چې اشنا! په بېلات شوے یم
7 ما د بل د لاس سزا وا نهٔ خسته
8 ارمان دزړهٔ دے اؤ کهٔزړهٔ دے د ارمان کنډری
9 نن مې بیا هغې کوڅې ته هغه ور ته زړهٔ کیږی
10 زهٔ د ګمان هرې تیارې نه لرې کښېناستمه
12 وایه کنه! ما څواب ته غوږ ایښے
13 دهٔ سره اوس بله لاره نشته دے
14 هغسې ویم خپله سندره ، ناامیده نهٔ شوم
15 د ګل غوټۍ ښکاری ،وره ښکاری ،لولکه ښکاری

16 هم خپل مقام وګوره! هم زما مقام وګوره!
17 هم داسې مینه ښکلا یؤ بل له دی
19 یوې شپې له راځی
21 زړهٔ مې په ځاے شو ، شوه خبر صفا لږه ډېره
22 خپل ئې کړه! بې وسه اؤ بې واک ئې کړه!
23 وګوره حسېنه! ما اؤ تا زغملے نهٔ شی دوی
24 ستا د ستم سپرلی کښې ، د ګلو کر نهٔ غواړم
25 ستا په شانتې ډېر دی په زړهٔ کلک په ښاریه کښې
26 زهٔ ستا د سترګو کاسې څښکمه پرېوانه جانانه!
27 زهٔ تا ته نهٔ ګورمه ، ځان ته ګورم
28 زړهٔ مې را ته یاره! ډېر ډېر څهٔ وائی
29 زړهٔ مې ډېر شو ناقلاره ، خداے دې خبر کړی
30 هر څهٔ چې منظر دے ، تهٔ پرې څهٔ کوې ؟
31 په زندګۍ مې بهروسه وه ، خو بس ختمه شوله
33 دې خپل خلوص د خلقو زباد مې زړګے دل دوبې کړو
34 زړهٔ کښې چې ارمان د جانان نهٔ لرې
35 یؤ خوا حالات ، بلخوا مې خلق خپل غربت ژړوی
36 دا هم د یار اؤ هم د دار لاره ده
37 زمونږ په خاؤره د پردو جنګ دے
38 دا څوبمه ورځ ده چې په سترګو کښې مې نم راځی
39 د خندا ډکو سترګو له ژړا به ګورو
40 نېغ نېغ راګوری ما ته ، لېونۍ ته دې خداے خبر کړی

41 ژوند نه مې منده جوړه کړې ده ، شاتار جوړ کړے

42 په غلا کۀ په ښکاره کۀ په تکې درله راوړمه

43 يوازې غماز نۀ دے ، کلے کور راپورې نخښلی

44 دهر چا په زړۀ کښې غلا ده ، نۀ پوهېږم

45 لکه چې درد څريکو ته چغه کړی ، درمان غواړی

46 د ورځې غم د شپې ژړا راکوی

47 دهر چا زړۀ به وی داسې اؤ کۀ دے را ته ښکاره شو

48 د نمر نه روڼ دے ، د سپوږمۍ نه هم ښېسته جانان

49 يؤ خوا هغې د ښائستونو سمندر ګرځوۀ

50 څکه خو به سر کښې مې مازغۀ سوزی

51 د ننګ اؤ پت هره قېصه خرڅه شوه

52 چې څنګ ئې ؤليدو ښائست زما د يار ملګرو!

54 د ديدنونو اهتمام ؤکړئ!

55 چې ستا د سترګو نه ئې اور واخستو

56 د پېغور چغه شوله ، مينه تماشه شوه ګرانه!

57 د خپل ارمان په قبر ، ماتو بنګړو ته کښېنم

58 لکه نغمه ، لکه ټپه ، لکه غزل ملګری

60 خوند دې د تؤدې تماشې نۀ ماتوم

61 هر سړے په تول پوره تللے جانان غواړی

62 ياره! چې ستا په خيال غزل ليکمه

64 خپلو پۀشړو ډاګه پرېښوم ، پردو سيورے راکړو

65 کۀ هر څو د ښکلو ښار کښې مونږ برباد شو

66 راځۍ چې دا تپوس خو وکړو د ځان خپل نه ورونو!

67 اے! د ستم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!

68 ښکلې خو پخوا نه خود غرضه وو

69 دا ساز د پښتنو دے ، دا غزل د پښتنو دے

70 د شپې ولقې نه د امید سحر ته ورسېدم

72 وائي "چې سر وي ، نو ټوپۍ ډېرې دي"

73 د لوظ په مرۍ چې د بانې چاړه راکاږي

74 خور شي ، بيا راټول شي او خنديږي ګل

75 بيا به د ښکلو په ښاريه کښې ځان خېرات نهٔ کړمه

76 خانه بدوش له کوره څهٔ خبر دي

77 ژوندون ژوندے ساتي ، د ژوند کردار ژوندے ساتي

78 دلته ګلاب نشته ، غانټول نشته ، شرشم نشته دے

79 خوږ ملګري خدائے بخښلي اجمل منصور ته

80 دا نهٔ ، چې يوازې ئې په ما سر ګرځول دے

81 ستا چې د ښائست شمعې لمبه کمزورې کړې ده

82 ښه شوه ، چې راغلې ، ګنې رو رو مې له ياده وتې

83 اےزړهٔ! ستا کور ته د وفا د کلي خان راغلے

84 څهٔ به رقيب وي ، څهٔ به وي د هغهٔ دوره دباؤ

85 زړهٔ به دې شمارم ، تهٔ مې شماره ورځې

86 دهر چا اوري ، خو زما په غږ ئې ځان کوڼ کړے

87 زړهٔ لېونے شوے ، ستا تصوير غواړي

88 لکه په غېږ د همايون کښې چې رباب غږيږي

خلوریزي 89

درئیزي 102

لوظ 105

ستا تصویر 106

قبصه 107

باچاخان ؒ 108

یاد 109

دلاسه 110

سپوږمۍ 111

حسېن شاه یوسفزے 114

سپرلے 116

وطن 117

تنقید 119

# لوظ

لوظ یو داسې تورــے دےـ، چې کله دغه زړهٔ راښکونکے ، زړهٔ درخوونکے اؤ زړهٔ مستوونکے لفظ څوک واؤرې یا ؤلولی اؤ یا ئې پخپله ؤوائی ، نو یو خوږ شان کیفیت په احساس راخور شی. لوظ چې د معاشرې په ادلون بدلون په کړو وړو یو امکانی اؤ یو لاامکانی حیثیت لری. د ژوند په تور تمونو کښې د یو روښانه مشال غوندې د سباوون په لټون د امیدونو رڼاګانې بلې ساتی. لوظ کهٔ د جانان د ملاقات وی اؤ کهٔ د دوؤ یا د ډیرو کسانو په څان کښې چې د هر څهٔ د پاره شوےـ وی ، خپل یو خاص مقام لری. د ډیرو کشالو اؤ د ډیرو ستونزو د هواری د امید سپه سالار لوظ څهٔ کړلیچونه نیغولی شی اؤ کهٔ نهٔ شی ، خو یو امید ورسره تړلے شوےـ وی. څنې خلق وائی چې لوظونه د مینې اؤ د محبت کولو په وخت کښې اکثر ماتیږی ، خو کهٔ مونږ فکر ؤکړو ، نو اوس خو د معاشرې په رګ رګ کښې دا خبره ګډه شوې ده ، چې په لوظونو کار چلول پکار دی اؤ چې کار سر ته شی ، نو نهٔ لوظ اؤ نهٔ د لوظ اقرار. نن سبا دغه ټکے په سیاست کښې اؤ په تیره تیره شاعرۍ کښې خپل خپل په وس اؤ خپل خپل

په ضرورت تر مخې دغه توری یاد کړے دے. د غزل بابا وائی،

پرپرده چې لوظونه د دروغو دې ریښتیا کړم
تهٔ را ته سبا سبا کوه، زهٔ به بیګا کړم

هم د حمزه بابا یوٗ بل شعر داسې دے،

بې لوظه اشنا! نورې بهانې مهٔ جوړوه
بس داسې بې عنوانه افسانې مهٔ جوړوه

اوٗ داسې نور هم ډېر شعرونه دی، چې زهٔ ئې د مثال په توګه پیش کولے شم، خو دا شان د هر شاعر شعرونه کهٔ زهٔ وړاندې کوٗم، نو زما دغه تذکره به ډېر طوالت واخلی. یوه اولسی ټپه ده چې،

چې لوظ وٗکړی بیا ئې مات کړی
ژبه ترې پرې کړئ، چې بیا نه کوی لوظونه

په هره معاشره کښې د لوظ د ماتولو خلقو ته ښهٔ نهٔ شی وئیلی کېدلے اوٗ په تېره تېره په پښتنې معاشره کښې د لوظ خپل یوٗ لوړ اوٗ اهم مقام دے. زمونږ په دین اسلام کښې هم د لوظ د ماتوونکو ډېره غندنه شوې ده اوٗ یوٗ حدیث مبارک دے(ترجمه)

(د چا چې لوظ په ځائے نهٔ وی، د هغهٔ دین نهٔ وی).

یعنی چې څوک بې لوظه وی، خپل لوظونه ماتوی، نو د هغهٔ دین اسلام نهٔ دے، یعنی هغه په اسلام کښې کهٔ

دے هم ، خو هغه مسلمان نهٔ شی کېدلیقینا ۔ چې لوظ په هر دور اؤ هرې معاشره کښې خپله موجودګی ژوندیٔ برقراره ساتلې ده ، نو ځکه خو زمونږ د نوی کهول دې ځلمی شاعر سدهېر ساده خپل د کتاب نوم "لوظ" غوره کړے دے. سدهېرساده چې د دیر اوسېدونکے دے اؤ دا وخت په عربستان کښې خپلو خپلوانو له د یؤ روڼ سباوون په امید لګیا دے ، محنت مزدوری کوی اؤ په داسې حال کښې چې په پردی وطن کښې د مزدوریٔ نه علاوه د ډېرو شخړو سره مخامخ سدهېر ساده بیا هم شاعری کوی. خپله ژبه خپل قام د ژوندی ساتلو هڅې کوی ، د ستائنې وړ دے.

شاعری د فنون لطیفه د باغ د ګلونو هاغه ځانګه ده ، چې ماحول پرې ټول معطره معطره وی. شاعران د یؤ انسان د ځانګړو یا د ټولنیزو احساساتو ، فکرونو اؤ جذبو څرګندؤنه په یوه داسې زړهٔ راښکونکې پیرایه کښې ؤکړے شی ، چې د اؤرېدونکو یا د لوستونکو جذبې داسې راویښې اؤ راؤپاروی ، چې په لوست یا په اؤرېدو ئې بیا بیا زړهٔته یؤ سکون یؤ قلارے محسوسیږی. شاعری یوازې د سندرو نوم نهٔ دے ، چې محفلونه

پرې ګرمولے شی اؤ نۀ يوازې د جانان د زلفو ، شونډو ښائست ، ناز اداګانو لره محدود کېدلے شی. يؤ ريښتونے شاعر خپلې قامی ، معاشرتی ، کلتوری اؤ تاريخی مرکې خپلې په شاعرۍ کښې په يؤ داسې انداز کښې خپل اولس ته وړاندې کوی ، چې په بيا بيا لوستو ئې هم د لوستونکو تنده نۀ ماتيږی هر شاعر غواړی چې د هغۀکتاب چاپ کړے شی اؤ هغه خپل اولس سره د شاعرۍ په ژبه مخامخ شی. سدهېر ساده په دغې هڅې هم لوظ تر مونږه رارسولےدے. سدهېرساده غزل اؤ قطعه هم ليکی ، نظم اؤ ازاد نظم هم ليکی اؤ په هائيکو ئې هم طبع ازمائی کړې ده. خو زما په خيال هغه غزل ډېر ښۀ ليکی. دسدهېرساده په شاعرۍ کښې درد هم شته اؤ خوشحالی هم لری. جنګ هم کوی اؤ د امن خواستګار هم دے. د شاعرۍ ژبه ئې اسانه اؤ عام فهمه ده. د هغۀ د شاعرۍ ژبه پسته هم ده ، خوږه هم ده ، رنګينه هم ده اؤ کليواله هم ده. د حسن اؤ نزاکت ښائست هم لری اؤ استعارې ، کنائې پکښې هم موندلے شی. مونږ کۀ په مجموعی توګه د ساده دغه ساده ساده خوږه خوږه شاعری ؤلولو ، نو په دې خبره رسيږو ، چې دغې شاعر

خپل پوره پوره وس کړے دے، چې د دهٔ شاعري لوستونکي خوښه اؤ خپله کړي اؤ په دې هڅه کښې تر څهٔ حده پورې کامیاب شوے ښکاري. د لهجې د ساده والی اؤ د خوږوالی په مثال کښې د دهٔ دا یوه د غزل مطلع د لوستو جوګه ده

خور شي بیا راټول شي، ؤخندیږي ګل
تهٔ چې ګوتې ور وړې، نو تخنیږي ګل

خومره ساده اؤ سوچه انداز سره ئې یوه خوږه اؤ احساس تخنوونکې خبره کړې ده. لکه چې څوک چا له ناڅاپه ګوتې یوسي اؤ هغه په لاشعوري توګه ؤبوږنیږي اؤ په خندا خندا د ځانه سره خور شي، خو چې ګوتې ترې نه لرې کړې شي، نو بیا را ټول شي اؤ په خپل زوږ حالات باندې په ځان کښې واپس راشیقینا ، چې شاعر ډیر نازک مزاج اؤ ډیر حساس وي.

<u>ساده</u> خپل په دې شعر کښې کهٔ یؤ خوا د جانان د ګلورینو ګوتو د ښائست اؤ نزاکت د ګل نه دومره زیات ستائیلے دے اؤ دغه هئیت ئې دې مقام ته رسولے دے چې ګل چې پخپله یؤ نازک اؤ حسین انځور دے د هغهٔ د جانان په نازکو اؤ حسینو ګوتو ور وړو په تخنېدو مجبوره کړے شوے دے اؤ بلخوا ئې په څهٔ دول د

فطرت د فطری قدرونو دځرګندوني اظهار کړے دے ، چې
خور شی ، بیا راټول شی.
دغسې دا بل شعر ئې وګورئ ،

زړهٔ د محبت په زمزم ؤوینځه
ښکلیه! د نفرت ښیرو نه پاک ئې کړه!

اوس په دې دواړو شعرونو کښې د سدهېر ساده بالغ نظری ، حساسیت اؤ شعوری پوهه په وافر مقدار ښکارېږی. په شعر کښې اسلوب ډېر لوی اهمیت لری اؤ وزن لری. یعنی صوری ، معنوی ، فنی اؤ فکری تقاضې پوره کول.
دغسې جانان ته اؤ نورو ډېرو خلقو ته خپل دې شعر کښې خپله دا غندنه رسول غواړی. شعر دے چې ،

تهٔ د خپلو سترګو لوړې ؤخورې
خلق کهٔ نهر دے ، تهٔ پرې څهٔ کوې؟

سدهېر ساده د ځان اؤ جانان غم سره سره د ټول جهان غم هم ژړلے دے. د معاشرې دی کهٔ سماجی دی ، ټول ئې په ګوته کړی دی ، چې پخپلو عیاشو ، تماشو اؤ په رنګینو کښې مشغول د بې غمۍ په ژوند قابض حرص ناک څهٔ کوې کهٔ شوک وږی وی کهٔ مړ ۀ ، هغوی پخپله

خپلې لوړې سر به کول غواړي د چا په نهرتوب ئې څۀ دی ، چې احساس ورته ؤشي.
د خپل وطن اؤ د عربستان د موسم د فرق تجزيه ئې څۀ په دې ډول کړې ده ،

د دې سپېرو شګو سيلو ته فکر يوړمه نن
زمونږ وطن کښې چې موسم څې ، نو موسم راځی

دا ريښتيا دی ، چې دلته د موسمونو څۀ خاص رنګ نۀ ښکاري. زمونږ وطن چې د فطرت يوه حسينه اؤ د ښکلاګانو هنداره ده ، هر څۀ هر څۀ لري. ګلونه ، سيندونه ، خوړونه ، چينې ، کوهی ، ابشارونه ، لې ، لختی ، چينارونه ، نخښترونه ، واؤرې ، بارانونه ، تندرونه ، طوفانونه ، سېلابونه ، غرونه ، ډاګې ، ورشې ، سپرلے ، پانړيږ (خزان) ، چيتر ،هاړ ،پشکال ،ژمے ،توره شله ،مڼے ،بادرو اؤ دغه شان ډېر رنګونه لري ، چې يؤ ځی ، نو بل راځی اؤ دغه شان هر موسم ځان ښائی اؤ ځان ستائی اؤ هم د ځان غندنې د اوسېدونکو نه وصولوی.
ساده د کلی نه د وتلو اؤ مسافرۍ ته د راتلو خبره څومره په خوږ انداز کښې اظهار کړې ده ،

ما کۀ د کلی نه په تلو کښې بلها وخت واخستو
تا هم په شا شا را کتو کښې بلها وخت واخستو

اؤ چې کله دغه وخت دمسافرۍ په زړۀ چاؤدون کښې د حالاتو سره بلد شو، اؤ ساده خپل په حقله خپل د احوال خبره تر جانانه رسوی ، نو وائی ،

تۀ مسافر لالی نه څۀ خبر ئې ، څنگ ژوندے دے
هغه په توره خړه څی اؤ په تور تم راځی

د ساده د شاعرۍ ډېر رنگونه اؤ تصویرونه دی چې خوندور اؤ رنگین دی. د موجوده حالاتو په حقله کوم چې زمونږ په وطن کښې د کلونو راهسې وینې بهیږی اؤ ورور د ورور له په وژلو پاربدلے دے اؤ هر خوا ته بې امنی ده اؤ د امنیت چرته نوم اؤ نخښان هم نۀ ښکاری ، ساده دغه کیفیت څۀ داسې بیا کړے ،

امن د جومات د سر نه چغه کړه
اوس باچا خان نشته دے ، قات شوے یم

باچا خان بابا چې د عدم تشدد پیروکار ؤ اؤ په هر حال کښې ئې د امن ، امن اؤ بس امن خبره کوله ، د شعر هغۀ سره نسبت اؤ هغه هم د امن د جومات د سر نه د چغې خبره څومره خوندوره اؤ ژوره ئې خپل دې زخمی زخمی اؤ وینې وینې اولس ته رسولې ده اؤ دغه اور چې په لر اؤ بر پښتونخوا کښې په خصوصی اؤ په نور وطن کښې په عمومی توگه بل شوے دے ، په حقله دا شعرونه ئې هم د لوستو جوگه دی ، چې

په دې حالاتو کښې به ورونو! جانان څنګه ستايم؟
دې اور مې ؤسېزل رنګونه د غزل نه رو رو

چرته يئ سېلګرو! هله زر راشئ!
بيرته اباد شوے يم، سوات شوے يم

د نن معاشرې نه وېزار شوے ساده، د معاشرې د حرص اؤ د خودغرضۍ په حقله ئې دا دوه شعرونه څومره رېښتينى حقيقتونه دى،

ما سره وېره د جومات پيدا شوه
نن چې د مړو هديره خرڅه شوه
د سړيتوب اؤ نېکنامۍ نامه خو
د سپکو ښار کښې په تکه خرڅه شوه

ساده غزل سره سره قطعې هم ليکى، چې يوه نمونه ئې د ثبوت د پاره د وړاندې کولو هڅه کؤم، چې دا شان د قطعو جاج هم د لوستونکو د نظر نه تېر شى،

د ارمان شا باندې ولاړ دے جانان
زړهٔ به مې څنګ ارمان ته ؤګورېږى
لاس چې ئې نهٔ رسى د وخت په جبر
د بې وسۍ نه ځان ته ؤګورېږى

سدهېر ساده کهٔ مونږ پېژنو، نو د شاعرۍ په حوال يې پېژنو اؤ رو رو به لوستونکی هم هغه وپېژنی. خدا ے دې وکړی، چې لوستونکی د سدهېر ساده په پېژندګلو کښې دېر وخت وا نهٔ خلی لکه چې هغه خپل جانان ته په دې شعر کښې اشاره کړې ده،

چا چې زما د نوم تعويز به ګرځوهٔ په غاړه
هغې زما پېژندګلو کښې بلها وخت واخستو

سدهېر ساده په دې کتاب کښې نظم، ازاد نظم اؤ هائيکوګانې هم ليکلې دی. د ساده دغه طبع ازمائی دېره ښه ده، خو په دې کښې هغهٔ له نور هم کوښښ پکار د ے، چې په راتلونکی وخت کښې په دغه صنفونو کښې هغه هم کامياب شی. د سدهېر ساده په شاعرۍ کښې به فنی اؤ معنوی کمزوريانې هم وی اؤ په راتلونکی وخت کښې به هغه خپلو د غلطو نه زده کړه وکړی، چونکې دا د سدهېر ساده اولنۍ چاپ ټولګه ده، نو دغه ځلے شاعر به په لږ دېر کمی زياتی نهٔګرموو، ځکه چې هغهٔ ته لا دېره زندګی په سر پرته ده اؤ کهٔ خېر وی، هغه به خپل مرام ته ورسيږی. په مجموعی طور سره کهٔ مونږ د سدهېر ساده د شاعرۍ جاج اخلو، نو دا وئيلی شو، چې هغه خپل په دې زيار کښې کامياب شوے دے اؤ ولې به نهٔ وی کامياب، چې هغه د حيات روغانی غوندې يؤ

ښهٔ شاعر اؤ نثرلیکونکی سره ناست پاست دے. زما دعا ده ، چې خدائے دې سدهېر ساده په قلم کښې نور هم برکت واچوی ، چې د پښتو ادب ته خپلې پېرزؤنې په وافر مقدار وړاندې کړی اؤ د پښتو لوستونکو نه دا طمع اؤ امید لرم ، چې د سدهېر ساده دغه کتاب "لوظ" به ؤلولی اؤ خوښ به ئې کړی.

د خپل لیک نه پخپله دې قطعه لاس راکاږم ، چې لوستونکی دغه قطعه د سدهېر ساده له اړخه ځان ته د هغهٔ خواستګری ؤګنی ، کهٔ څهٔ کمے زیاتے پکښې لوستونکو ته ښکارېږی ، نو بخښنه ورکړی. ډېره مننه

په دې خزان خزان موسم کښې د ګلاب تصور
کهٔ بې مزې وی ، بې وړمې وی ، نو بخښنه غواړم
ما په غزل غزل جانان باندې غزل ؤلیکهٔ
کهٔ څهٔ کمے زیاتے پکښې وی ، نو بخښنه غواړم

په درنښت
محمدزرین پریشان ارغونے
صدر عربستان پښتو ادبی تړون
ریاض ـ سعودی عرب
26/12/2011

# ساده "لوظ" پوري

د چا په تخلیق څهٔ وئېل یا لیکل ډېر ګران کار دے ، ځکه چې په تخلیق د رائې قائمولو نه وړاندې د خالق په شخصیت اؤ نفسیاتو پوهېدهٔ هم پکار دی اؤ چې کله تخلیق کتاب وی ، نو بیا خو خبره نور هم ګرانه شی(ځکه چې په کتاب کښې تخلیقکار د داخلیت اؤ خارجیت دواړو اظهار په بیلا بیلو وختونو کښې دبیلابیل اثر لاندې کړے وی) اؤ چې بیا کتاب د شعر وی ، نو خبره د هغې نه هم زیاته ګرانه شی(ځکه چې شاعر د لاشعور اظهار کله کله داسې ؤکړی ، چې د سړی لاشعور هم د شعور ائینه دار ښکاری اؤ لاشعور په انسانی نفسیاتو کښې دومره پیچیدګی لری ، چې کله نا کله سړے په شعوری توګه هم پخپل لاشعور نهٔ پوهیږی). شعر چې کله شعوری وی نو شاعر ته خپل مرام اؤ مقصد معلوم وی اؤ دغه شعر و شاعر په څهٔ نا څهٔ حواله د تاریخ په پاڼو کښې ژوندے پاتې کیږی.

پښتانهٔ شاعران په ابتداء کښې د خپلو جذباتی رويو اؤ نفسياتی اثراتو له کبله شعر لا شعوری طور ليکی اؤ ځکه دغه شاعری يا خو روايتی وی اؤ يا رسمی، خو د وخت سختی سوختی، سياسی، سماجی، معاشرتی اؤ معاشی حالات د هغوی دومره تربيت ؤکړی، چې بيا دغه شاعر په شعوری توګه شعر وئېل شروع کړی. کوم شاعر چې د دغې عمل نه تېر شی، يعنی د شعر وئېل ئې د لا شعور نه شعور ته راشی اؤ بيا په شعوری توګه خپل شعر د خپلې ژبې، قام، خاورې اؤ انسانيت د خېر ښېګړې د پاره د يو (tool) په طور استعمال کړی، نو دغه شاعر د خپل شعر په حواله په خاص مکتبهٔ فکر کښې ؤپيژندے شی اؤ يا د يو خاص مکتب فکر ترجمان شی. کوم شاعران چې خپل شعر د څهٔ ساهو مقصد د پاره پکار نهٔ راولی، نو دغه شاعر د وخت په ګردونو کښې داسې ورک شی، لکه چې هډو چرته ؤ هم نهٔ.

شعر رسما ، وئېل ښهٔوی، خو سړے تول عمر ژوندے نهٔ شی ساتلے شعر روايتا ، وئېل نو بيا هم څهٔ نا څهٔ ارزښت لری، خو د نن زمانې شعر د جدت بلکې د عصريت په لاره ډېر په تېزۍ سره روان دے اؤ د شعر ژبه د اشارو، کنايو، تشبيهات اؤ استعارات نه په علامتی توګه ډکه پکه ده. عصری تقاضې اؤ عصری تقاضو کښې د انسان مادی اؤ نفسياتی غوښتنې د شعر مضامين ګرځېدلی دی، نو بيا خو دومره زده کړه اؤ تربيت

ضروری دے ، چې یؤ شاعر خو د خپل ژوند اؤ شعر وئېلو په مقصد پوهه وی.
سدهېر ساده د خادکزو (کوز دیر) یؤ داسې کشر دے ، چې ما لا تر اوسه د هغهٔ سترګې سمې نهٔ دی لیدلی اؤ دا ما ته د دغې کلی د خلقو فطرت اؤ قدرتی خوئی ښکاری. ځکه چې ساجد افغان ، محمد صدیق ، طاهرعلی اؤ عن تر دې چې د ساجد افغان والد محترم چې ستا سره خبرې کوی ، نو په سترګو کښې به ئې تا ته څهٔ بل شان حیا اؤ رڼا ښکاری. کهٔ زهٔ دا ؤوېم ، چې زما سره د دغه کېفیت بیانولو د پاره ټکی اؤ جملې نشته ، نو بې ځایه به نهٔ وی. سدهېر ساده داسې باحیا ځلمے ، چې خبرې کوی ، نو تهٔ به وائې ، چې ګنې د واؤرې پوڅی راورېږی. داسې نرمې ، خوږې اؤ پستې چې دزړهٔ تل ته کوزېږی.
چې خدائے ته حقه ده ، سدهېر ساده خو ما ته هاغه سدهېر ساده ښکارېدو ، لکه چې څنګه دلته ؤ ، خو د هغهٔ شاعری چې ما ؤلوسته ، نو داسې ښکاری ، چې هغهٔ د شعر په مېدان کښې ډېره لویه لاره وهلې ده. په دې څلور کلونو کښې دومره ترقی د ښو دوستانو د ناستې پاستې اؤ فعالو ادبی هلو ځلو نه بغېر بیخی ناشونې وی. زما په خیال ساده ته ډېر پوهه ، خوارهٔ اؤ مخلص ملګری په لاس ورغلی دی اؤ دغسې د هغهٔ ادبی محفلونه هم په نصیب شوی دی. په تېره

تېره حیات روغانے چې پخپله دېر ښهٔ فکری اؤ شعوری توان لری اؤ د ساده فکر له ئې هم هغه توان اؤ رنا ورکړې ده ، چې د خپل قام اؤ خاؤرې د روښانه سباوون خوبونه پرې ؤوینی اؤ بیا د دغې خوبونو تعبیرونه لکه د جانان د تصویر فریم کړی اؤ په خپل تندی اؤ غاړه ئې اوېزان ګرځوی.

د ساده په شعر کښې رسمیت هم شته اؤ روایت هم .....
د ساده په شعر کښې جدت هم شته اؤ عصریت هم .....
د ساده په شعر کښې علاقائیت هم شته اؤ عالمګیریت هم .

اؤ دا تولې خوبۍ د ساده په ټوله شاعرۍ کښې په عمومی توګه اؤ غزل کښې په خصوصی توګه ښکاری. دېر محترم محمود ایاز صېب پخپل یؤ لیک "د جدید پښتو غزل تازه کرۀ وړۀ" کښې فرمائی ،

"غزل ښکلا ده ـــ غزل ژړا ده ـــ غزل د مظلوم د اوښکو اواز دے ـــ غزل د جبر اؤ ظلم په مخکښې یؤ نۀ نړېدونکے دېوال دے ـــ غزل د کائنات د همه رنګینیو مجموعه ده ـــ غزل دحق ملګرے اؤ د باطل ضد دے ـــ غزل د انسان د حق غوښتلو د پاره یؤ ستر محاذ دے ـــ غزل د هاغه ټولو مسئلو ، کۀ هغه معاشرتی وی اؤ کۀ معاشی ـــ کۀ مذهبی وی کۀ روایتی ـــ د حل د پاره مکمل سعی ده".

د ساده‌په غزل د محمود ایاز صېب د خبرې تول عکسونه ښکاري. بېلګې ئې دا دي:

هسې دې په لار کښې پښه نیولے شی
خبر دے څه ،سلام دې را نه نهٔ اخلی
زهٔ ملګرو ژوند کوُم د دې په سر
دا مینه د قام دې را نه نهٔ اخلی

ما ترې د احساس سلګۍ قبوله کړه
ما ترې د غرض خندا وا نهٔ خسته
هم ئې په بازار دے لګولے اور
هم وائی ، چې چا سودا وا نهٔ خسته

دا خو بې وسۍ اؤ غریبۍ دلته راوستے یم
ستا نه بغېر هم زما جانانه! چرته زړهٔ کیږی؟
هر څو کهٔ د کرکې تیغی ؤتوکېدل هره خوا
دې موسم کښې هم زمونږ دګلو کر ته زړهٔ کیږی

دا احترام کوُم د مینې اؤ کهٔ جبر په ځان
چې پسې مرمه ، د هغې نه لرې کښېناستمه
دا احتجاج زمونږ پوره دے ،کهٔ پوهیږی پرې څوک
تهٔ د ګودر ، زهٔ د حجرې نه لرې کښېناستمه

زۀ د نغمه ګر د زړۀ اواز اؤرم
ډېرو کۀ اشنا! رباب ته غوږ ایښے
څه اقرار په شړق ؤله ، انکار سهی
وایه کنه! مونږ خواب ته غوږ ایښے

وې مې ورته ، زړۀ دې را له څۀ کړلو؟
وې وئېل د ډېره قاره ، نشته دے
ځان له دې ساده مئېن کتلے دے
تا نه خو دغې! هوښیاره نشته دے

خپل اؤ پردی مې د ملهم په ځاے پرې مالګې نولی
د زړۀ پرهر را ته تصویر د کابل ښکه ښکاری

زۀ بهانې نه تښتم
هغه ګیلې له راځی
ساده به ستا غېږې له
ګرانې! دمې له راځی

هر خوا وینې دی اؤ شور دے اؤ ماتم دے
پښتـونخـوا کۀ کـربلا ده، نۀ پوهېـږم
بیا دې نوم کوم ځوانیمرګ په خلۀ اخستے
چې ټول ښار کښې واوېلا ده، نۀ پوهېږم

زۀ هم دا دعا کوُم ، چې د پښتو غزل دغه نوے غړے دې نور هم خوندور اؤ ښکاره شی ، چې د پښتو ژبې لمن ته د غزل یوُ بل گل د ملاکنډ نه ډالۍ کړی.

په ډېره مینه
**محمد اقبال شاکر**
بټخېله (پښتونخوا)

# د لوظ زېرے

اوس د وخت اؤ حالاتو بدلون سره د پښتو ادب رويې اؤ خويونه هم نور شول. خوشحال خان بابا نه وروستو په پښتو شعر کښې د قام مسئلې اؤ د ننګ سندرې د رومان زور خوړلې وې. په څهٔ درې سوه کلونو اوړېدلو فخر افغان حضرت باچاخان بابا رح د خدائی خدمتګار تحريک سره وابسته ملګرى بيا راؤپارول اؤ پښتون شعر بيا د ننګيالى سندرې سرې انقلابى جامې واغوستې اؤ د اولس اؤ خاوړې خبرې ئې وکړې. دې نه وروستو غنى خان بابا، قلندرمومند بابا،رحمت شاه سائل اؤ داسې نورو مشرانو پښتو ادب کښې د رومان په ژبه خبرو کښې د قام، اولس اؤ خاوړې خبرې لکه د ملغلرو وپێيلې اؤ اوس چې ما د سدهېر ساده شعرونه ولوستل، نو ځکه مې ورته "زېرے" ووې، چې هر مخ باندې مې د قام، اولس اؤ خاوړې په حقله څهٔ نا څهٔ ولېدل. دعا کوم، چې د ساده دغه لاره د هر پښتون ځلمى شاعر لاره وګرځى.

زهٔ د خپل قام هر يؤ ځلے اؤ پېغله د هغه لوى بابا په ننګ وينښؤم
د پښتونخوا قبصه پېکه چې نهٔ شى بيا په تاريخ کښې هاغه رنګ وينښؤم

په ډېره مينه
شېر بهادر افتاب
رياض (سعودى عرب)

## ورومبے لوظ

ژوند د هرې ساه سره د تګ لوظ سر ته رسولو کښې په هره ساه دړکې سره مخ شوے دے ، خو په شا تلے نهٔ دے. د ژوند هسې هم ؤدرېدل اؤ ستنېدل زده نهٔ دی ، ځکه چې ژوند د خوځښت نوم دے اؤ لوظ د ژوند د پاره ادانه ده.

مینې یؤ ځل د سحر د نمر ختلو نه اګاهو لوظ ؤکړو اؤ د پرخې رنګ کښې لمبېدلې د ګل په مخ خوره شوه. نمر راغلو اؤ پرخه ئې ؤسېزله ، خو د مینې لوظ د بلې ورځ د نمر نه اګاهو بیا د پرخې رنګ کښې د ګل په مخ زیږېدلے ؤ.

ملګری سدهبر ساده ژوند ، مینې ، پرخې ، خاورې او امن سره لوظ کړے وُ اؤ هغه لوظ ئې سر ته رسولو کښې یوې شېبې له هم په څټ اؤ هڅه ستړے شوے نهٔ ښکاری. هغه شنه شونډه څلے دے. د مرام سره پېژندګلو د پاره لا اوږد مزل په سر پروت دے. د هغهٔ دزړهٔ زور اؤ زیار ته دا اوږد مزل ډېر نزدې ښکاری. هیله لرلې شو، چې راتلونکی کښې به د هغهٔ قلم د لوظ غوندې نورې سندرې هم د پښتو ادب جولۍ ته وُسپاری. د څلمی کهول سندرو کښې چې څومره ملګرے سدهبر ساده اومه خلهٔ دے ، دومره ئې سندرې شوخې ، پوهه اؤ پخې دی. د هغهٔ د سندرو مینه مې د اشنغر د ساګر یوسف خېل ، کاشف شمال محمدزی ، د خېبرایجنسۍ د شاهین اپریدی ، د سوات نصیب تنها اؤ د ملاکنډ په ربحاب خان ربحاب ماتیری. خوره لپه یو، چې د هغهٔ پښتو ژبې ، قام اؤ اولس سره لوظ د مینې په داډ تل ژوندے وی.

په درنښت

**حیات روغانے**

وردګه (اشنغر)

01/01/2012

# باید چې مننه ؤوایم

باید چې مننه ؤوایم خپلو تولو ملګرو ته ، چې د دې کتاب په چاپ کولو کښې ئې زما ډاډګیرنه کړې ده. پښتونخوا کښې زما ملګری عمران عاجز ، داؤد شهاب ، عابد افاق ، حبیب الرحمان ښاد ، زبیر عقاب ، اسحاق درانے ، ناصر امین ، محمد رسول رسا ، سکندر درمان علی خېل ، ساجد افغان ، علی خېل دریاب ، صابر علی صابر ، قاری داؤد سیماب ، شاذوالله اسیر ، ابراهیم صابر ، اجمل منصور (خدای بخښلے) ، فرمان ترکئ اؤ بلال دانش کهٔ د هېرولو نهٔ دی ،

نو د سعودی عرب په خاؤره خوارهٔ ملګری تاج محمد احمد ، شاهین اپریدے ، محمد ارشاد امید ، روزی خان ناز ، جاوید خان سواتے ، عبدالصمد عامر ، شوګیر اتمانخېل ، نصیب تنها ، اخترولی ثنان ، جمال شاه یوسفزے ، حضرت الله قائد ،خیام یوسفزے ، جان محمد زاهد ، خورشید عالم صابر ، بهرام اوډیګرام ، عالمګیر شاهین ، دریاب دولت خېل ، مجاهد سېلاب ، رحمت علی رحمت اؤ شاهد دارېن هم یادول خپله فریضه ګنم.

دې سره سره زما قدرمن مشران زرین پرېشان ، نعیم راهی ، اقبال شاکر ، معزم صافی ، شبېر بهادر افتاب او حیات روغانے هم یاد کړم ، چې د کتاب چاپ د پاره ئې زما لارښودنه او داد‌ګیرنه کړې ده.

تولو نه وروستو به د خپلو مشرانو حېدر ګل اباخېل ، قېس محمد سوختی ، باچا ګل لالا ، بشیر خان (اغاجان) ، ګل زمین خان ، ظهور خان ، سرفروش خان ، حاجی سبز علی خان ، عظیم خان ، شېرشاه یوسفزی ، رستم خان ، ګل شېرین خان ، حبیب یونس ، جنګرېزخان ، عبدالمجید لالا او محمد نصیب لالا مننه هم په خان پور ګنم ، د دوی او نورو یادو او هېرو ملګرو مینه به تل زما زړه ګښې وی.

په پښتنه مینه

سدهېرساده

الریاض (سعودی عرب)

# دعا

لاس مې نیولی دی کوُمه دا دعا الله!
خوره په خاوُره کړې د امن تهٔ رڼا الله!

زمونږ د زړهٔ نه د نفرت دا بتان وران کړې ربه!
د مینې لار باندې زمونږ کاروان روان کړې ربه!

زمونږ حجرې اؤ جوماتونه بیا ودان کړې الله!
د پښتونخوا قسمت پخپل قدرت روښان کړې الله!

زما مزدور ښهٔ په حلاله نمړۍ موړ کړې ربه!
زما وران شوے کور پخپل رحم بیا جوړ کړې ربه!

زهٔ ستا بنده یم ، ستا ساده یم ، ستا په در ولاړ یم
زهٔ ډیر بې وسه په امید ستا د نظر ولاړ یم

صلى الله عليه وسلم

هره ساه اؤ هر نظر، صلوا عليه و اله
هر ماښام اؤ هر سحر، صلوا عليه و اله

رحمت اللعلمين، خلق عظيم، خلق عظيم
زمونږ نبی خير البشر، صلوا عليه و اله

واه اے د مكي خاؤرې ، خار دې شمه ، خار دې شم
واه د مدينې منظر، صلوا عليه و اله

ژوند كۀ دے ازغے ازغے ، وخت كۀ دے لتاړ لتاړ
هر قدم په هر سفر، صلوا عليه و اله

ما له خوب نۀ راځی، زما دعا له خوب نۀ ورځی
زما شنکل باندې زما اشنا له خوب نۀ ورځی

ما وې، واعظ هم د جانان قيصې ته غوږ اېښے ؤ
دغۀ! هغۀ له خو به هم بيګا له خوب نۀ ورځی

خدائے دې خير کړی، د جانان د يادو دا سرزوری
نن خو بيخی زما د زړۀ دړزا له خوب نۀ ورځی

وار په وار راشی اؤ ما ؤسکوندی، ما وینښ ؤساتی
قسم دے تولہ شپه زما سودا له خوب نهٔ ورځی

گوره! زمونږ کلے خو سم مابنام سره اودهٔ وی
اے! په دې ښار کښې خو شپه ورځ رڼا له خوب نهٔ ورځی

دې بدامنۍ کښې په ما څهٔ کوې، لږ ورشه! وینه!
د حجرې خان له، د جومات ملا له خوب نهٔ ورځی

د ساده یار به ما نه هم ښکلے وی، څکه وینښ دے
گنې دې غیږ کښې میرات خرڅے چا له خوب نهٔ ورځی

دا رنګين ماښام دې را نه نهٔ اخلی
دومره انتقام دې را نه نهٔ اخلی

وا خلی دې خپل هر څهٔ وخت ، سمبال دې کړی
لاسو نه ډک جام دې را نه نهٔ اخلی

هسې دې په لار کښې پښه نيولې شی
خبر دے څه! سلام دې را نه نهٔ اخلی

راشۀ! لږه دا لېونی پوهه کړۀ!
مرمه ګورے ، ګام دې را نه نهٔ اخلی

زهٔ ملګرو! ژوند کوُم د دې په سر
دا مينه د قام دې را نه نهٔ اخلی

پيغله کمخی نهٔ کړی ساده! زلفې اوس
زهٔ دم شومه ، دام دې را نه نهٔ اخلی

هغه چې اشنا په بېلات شوے يم
ستا د تلو نه وروستو ميرات شوے يم

څرته يې؟ سپلګرو! هله زر راشئ!
بېرته اباد شوے يم ، سوات شوے يم

داسې را ته ډوبېل د عشق درياب
"مهٔ رادانګه!کم نهٔ يم ،زيات شوے يم"

نور چې پسې لاس مرورې ، ارمان کوي
زهٔ په هغه شونډو خېرات شوے يم

امن د جومات د سر نه څفه کړه
اوس باچا خان نشته ، زهٔ قات شوے يم

څومره چې وخت تريخ کړمه <u>ساده</u>! دومره
زهٔ ستا غزل شوے يم ، شات شوے يم

ما د بل د لاس سزا وا نۀ خسته
ما د چړې لاندې سا وا نۀ خسته

ما ترې د اخلاص سلګۍ قبوله کړه
ما ترې د غرض خندا وا نۀ خسته

هم ئې په بازار د ے لکولے اور
هم وائی، چې چا سودا وا نۀ خسته

دلته ئې په نغدو ښکلا واخسته
هلته ئې په په پور ادا وا نۀ خسته

ما ساده خان بل په لویه لار کښې کړو
دې سپېرۀ اولس رښا وا نۀ خسته

ارمان د زړهٔ دے اؤ کهٔ زړهٔ دے د ارمان کندړی؟
درمان د درد دے اؤ کهٔ درد دے د درمان کندړی؟

رقیب ته چا زما په حقله باندې داسې ؤوې
"په قلار کښېنه! دا سرے دے د جانان کندړی"

دا چې اسمان ته ګوته نیسی، ګواښ کوی، زوږ کوی
دغه سرے هم دے ملګرو! د اسمان کندړی

هسې نهٔ څوک ورله پېغور د بې وسۍ ورکړی اوس
په شا شا نهٔ ګوری په منډه دے روان کندړی

داسې څوک شته چې مې په دې خبره سر خلاص کړے شی
چې انسان ولې دے یارانو! د انسان کندړی

دلته د ماتو وعدو سر ته <u>ساده</u> ناست دے ژاړی
هلته نیازبینو سره ژوند کوی ایمان کندړی

نن مې بيا هغې کوڅې ته، هغه ور ته زړۀ کيږي
بدي مې شي شر، خو نن مې هسې شر ته زړۀ کيږي

دا خو بې وسې او غريبۍ دلته راوستے يم
ستا نه بغير هم زما جانانه! چرته زړۀ کيږي؟

هر څو کۀ د کرکې تيغې وتوکېدل هره خوا
دې موسم کښې هم زمونږ د ګلو کر ته زړۀ کيږي

اے دغې! زما او ستا تر منځه څۀ انا او ضد
خبر کۀ سپک را ګورې، زما ستا نظر ته زړۀ کيږي

ښار کښې ستا ساده لکه قېدي ژوند تېرولو، بس
اوس غواړي چې والوځمه، اوس ئې غر ته زړۀ کيږي

زۀ د ګمان هرې تيارې نه لرې کښېناستمه
اوس د خپل ځان د تماشې نه لرې کښېناستمه

دا احتجاج زمونږ پوره دے ، کۀ پوهيږی پرې څوک
تۀ د ګودر، زۀ د حجرې نه لرې کښېناستمه

دومره داړه کړمه ستا سترګو په ګناه نيازبينه!
لاړمه، لاړم، د توبې نه لرې کښېناستمه

دا احترام کوم د میني اؤ که جبر په ځان
چې پسې مرمه، د هغې نه لرې کېښناستمه

چې ستا د نوم دعوې کوونکو کافر وګڼلم
ستا د حرم د دروازې نه لرې کېښناستمه

دېر ښهٔ غزل ؤ، خو ستا نوم پکښې پیوند نهٔ خورهٔ
ځکه د دغې قافیې نه لرې کېښناستمه

سدهېره! دې سره به سر شی د پی مخی پښتو؟
زهٔ چې د خپل ذات دائرې نه لرې کېښناستمه

## پنځهٔ شعرونه

څه! اقرار په شرق ؤله، انکار سهی
وایه کنه! ما څواب ته غوږ ایښے

مونږ د بې غمۍ په خوب اودهٔ پراتهٔ
هلته حادثې سېلاب ته غوږ ایښے

څهٔ نا څهٔ زمونږ حق کښې هم ؤوایه!
مونږه هم جناب! جناب ته غوږ ایښے

زهٔ د نغمه ګر د زړهٔ اواز اؤرم
دېرو کهٔ اشنا! رباب ته غوږ ایښے

څان له لپه لپه دعا غواړی شېخ
مونږ باندې ئې تش عذاب ته غوږ ایښے

دهٔ سره اوس بله لاره نشته دے
وېره مې د زړهٔ له داره نشته دے

لاړمه نو خپل ځان سره ؤنخښتم
اوس مې خلاصون بې فراره نشته دے

مینه ده، چې صبر پکښې نهٔ کېږی
بله جذبه بې اختیاره نشته دے

بې له تا خوارېږهٔ ژوند کښې، دا څهٔ وائې؟
خورم درته قسم چې یاره! "نشته دے"

وې مې ورته، "زړهٔ دې را له څهٔ کړلو؟"
وې وئېل له ډېره قاره، "نشته دے"

ځان له دې ساده مهٔبن کتلے دے
تا نه خو دغې! هوښیاره نشته دے

هغسې وېم خپله سندره، نااميده نهٔ شوم
زاهده! زهٔ ستا په خبره، نااميده نهٔ شوم

په بېنوا تلو ستا له دره، نااميده نهٔ شوم
د غريبۍ له لنډ خاره، نااميده نهٔ شوم

ما د تيارو سينه شلولې ده، منې اؤ که نهٔ؟
د تورې شپې نه تر سحره، نااميده نهٔ شوم

تا ته په سوال ئې مجبور نهٔ کړمه د کلی خانه!
شکر دے، زهٔ له خپل هنره، نااميده نهٔ شوم

ستا د يادونو قافله وه بدرگه ما سره
زهٔ د بيلتون له لوی سفره، نااميده نهٔ شوم

ساده‌سړے ؤمه، حالاتو په څهٔ چل تېريستم
دا ده، بې خبره اؤ بې شره، نااميده نهٔ شوم

د ګل غوټۍ ښکارې ، وږه ښکارې ، لولکه ښکارې
خدائېږکو هغه را ته په سپین سر هم نېنځکه ښکارې

مړې قسم مهٔ خوره ، وعده کهٔ اوس ماتیږې خبر دے
زهٔ به دا ؤوېم ، چې دا ځل دې وعده کلکه ښکارې

خپل اؤ پردی مې د مرهم په ځاے پرې مالګې نولی
د زړهٔ پرهر را ته تصویر د کابل ځکه ښکارې

چا را ته خوب کښې داسې ؤوې ، چې منزل ته رسۍ
اوس تول پښتون قام بې لوره بې توپکه ښکارې

په کوم مقام پسې چې خلقه! ما وزرې غوښتې
هاغه مقام را ته د پښو لاندې په زمکه ښکارې

چې تو اؤ زو ئې د ښاریانو کله واؤرېدل نو
ساده! جانان ته مې د غرهٔ ژبه اوس سپکه ښکارې

هم خپل مقام ؤګوره! هم زمونږ مقام ؤګوره!
چرته تاریخ خو د سپېڅلی پښتون قام ؤګوره!

راشه د امن دعوېداره! دا منظر ؤوینه!
په وینو سور زمونږ جومات زمونږ امام ؤګوره!

مونږه به خنګه په یؤ جغ کښې سره لاړ شو دواړه؟
تۀ خپلو سترګو کښې غلیمه! انتقام ؤګوره!

اــے شېخه‌راشه چې تقوی ، ته دې تیلے ؤوهی
تۀ د ښائست د لمبو زور په پورې بام ؤګوره!

تا چې تبلیغ دلته فساد کړو د جهاد په نامه
راشه په دې ښار کښې د خپل تبلیغ انجام ؤګوره!

ساده د خپل کلی بدنام خو به پرې تول ؤبخښې
زمونږ د کلی دا سپین ږیری اؤ نېکنام ؤګوره!

هم داسې مينه ښکلا يؤ بل له دی
لکه دنيا اؤ عقبا يؤ بل له دی

لکه جنت اؤ دوزخ اور اؤ اوبهٔ
داسې سبا اؤ بيگا يؤ بل له دی

لکه چې غم اؤ ښادی ورور اؤ خور دی
داسې خندا اؤ ژړا يؤ بل له دی

لکه ښائست اؤ ځواني ګرم سنګر
داسې جومات اؤ ملا يؤ بل له دي

د يار ديدن لکه وروکے اختر
پکښې زړګے اؤ درزا يؤ بل له دي

ګرانه! سودا مې کله ؤځي زړهٔ نه
ګرانه! دا زړهٔ اؤ سودا يؤ بل له دي

توبه اؤ شېخ دواړه يؤ بل سره وي
لکه چې غل اؤ سزا يؤ بل له دي

زمونږ په برخه پسخېدل دي خانه!
ښکلا اؤ قېنج اؤ ادا يؤ بل له دي

تهٔ ګوره اوس خو ساده هم ؤوئېل
زړهٔ مې اؤ ښکلې لېلا يؤ بل له دي

يوې شپې له راځى
سمې حملې له راځى

بيا باران ولې نهٔ وى؟
چې هغه شپې له راځى

دوى دوه مئېن بيلوى
خلق بس دې له راځى

ګناه به چا ته سپارى؟
زړهٔ چې توبې له راځى

ما چې څوک هم لټوى
ستا دروازې له راځى

هغه زما نهٔ اوړی
خپلې قبصې له راځی

چې بل در ؤ نهٔ مومی
نو مېکدې له راځی

د بورا تول لېونتوب
د ګل ورږمې له راځی

زهٔ د بانې نه تبنتم
هغه کیلې له راځی

ساده به ستا غېږې له
ګرانې! دمې له راځی

زړهٔ مې په ځانے شو، شوه خبره صفا لږه ډېره
ما ورته ؤکړه قېصه خپله بېګا لږه ډېره

نور را نه هېر دی، خو ستا نوم را ته يادېږی لږ ډېر
دومره مې ياده ده جانانه! دعا لږه ډېره

اے د ښار پېغلې! هله زر کوه چې ؤ دې ستايم
شابه ښېسته کړه په حيا دې ادا لږه ډېره

زړهٔ د هغې په جفا نهٔ کوّم هغې نه ګيله
چرته خو کړې به هغې وی وفا لږه ډېره

زړهٔ ښهٔ پوهېږمه، چې ما به ورته نهٔ پرېږدی څوک
بيا هم لګيا يم، زده کوّمه خندا لږه ډېره

پښتنه پېغله وه، په خلهٔ ئې څهٔ ونيلے نهٔ شو
<u>ساده</u>! خفه به وه هغه هم تنها، لږه ډېره

خپل ئې کړه! بې وسه اؤ بې واک ئې کړه!
واخله ساده ، ستا د درشل خاک ئې کړه!

تا غواړی جانانه! دا زړهٔ تا غواړی
راشه! لېونے ئې کړه! کاواک ئې کړه!

زړهٔ د محبت په زمزم ؤوینځه!
ښکلیه! د نفرت ښیرو نه پاک ئې کړه!

زر ژاړی زما صبر ، نیازبینه! تهٔ
ستغ ئې کړه! لږ لواړ ئې کړه! متاک ئې کړه!

ستا ساده د وخت په ژبه نهٔ رسی
پوهـ ئې کړه! استاد ئې کړه! چالاک ئې کړه!

ؤګوره حسېنه! ما اؤ تا زغملے نۀ شی دوی
تا په کربلا اؤ ما بابړه باندې وژنی

یه خلقو! زما د قاتل دا سر زوری ؤوینئ!
ما نه ئې سترګه نۀ سوزی، ما لوره باندې وژنی

سترګې ئې خدایه نیمه شپه کښې تورې کړې دی
نن مې کۀ څۀ یار په توره خړه باندې وژنی

خپل اولس له ژوند غوارمه، امن اؤ سکون غوارم
ما په دې ګناه، په دې ښېګړه باندې وژنی

ما خو ساده! ښکلی ته بخښلې خپله وینه ده
اوس هغه ما ښار کښې اؤ کۀ شړه باندې وژنی

ستا د ستم سپرلی کښې، د ګلو کر نهٔ غواړم؟
زهٔ خو دا نهٔ وایمه، چې بل پرهر نهٔ غواړم

په دې محفل کښې به زهٔ، نور څهٔ خېرات ؤغواړم
دلته زهٔ خاؤرې غواړم؟ چې ستا نظر نهٔ غواړم

دا بدامنی په څهٔ ده؟ دغه فساد په څهٔ دے؟
چې تهٔ سنګر نهٔ نیسې اؤ زهٔ سنګر نهٔ غواړم

زما د قام په برخه، چې کړاوونه راؤړی
دا سباوون نهٔ غواړم، داسې سحر نهٔ غواړم

یؤ باچا خان منمه، یؤ باچا خان ستایمه
بل څوک لارښود نهٔ منم، بل څوک رهبر نهٔ غواړم

تا ته قبولې مهٔ شه، زما <u>ساده</u> جانانه!
ښېرې له نازه کؤم، پکښې اثر نهٔ غواړم

ستا په شانتې ډېر دی په زړهٔ کلک په ښاریه کښې
څکه ډېر ساده شول ورک په ښاریه کښې

اوس د کلی خاوړې خلې ته اچوُم په مینه
ما یوُ څل خوړلے وُ تیندک په ښاریه کښې

ښو کښې مې پرتې دی زولنۍ د لوږو تندو
خدائیګو کۀ ایسار وے زهٔ یوُ تک په ښاریه کښې

د کلی یوُ غریب پخپلو وینو وُ لوی کړے
مړاوے شو د سرو ګلو غومپک په ښاریه کښې

هلته ژوند په منډه دے ، خوله خوله اوُ ستړے
یه خلقه! درانهٔ خلق شی سپک په ښاریه کښې

ورک نهٔ شی زما ساده ساده جانان شورونو کښې
چرته به ئې بیا کوُم درک په ښاریه کښې؟

زۀ ستا د سترګو کاسې ښکمه پرېوانه جانانه!
ما سره نۀ ښائی چې ستايم مېخانه جانانه!

داسې مې اوس هم د سفر پېريان په سر سوارۀ دی
زۀ پخپل کور کوم نمونځونه سفرانه جانانه!

په دې وطن کښې د ژوندون د نغمې ساه بنديږی
راځه! چې بيا يو چغه وکړو مستانه، جانانه!

په سر د يو خانه خراب دے دوريځو سيورے
ښکاری په دۀ کښې د باغيانو نشانه جانانه!

ساده! خوار مۀ شې، اوس د کلی جونې ما تنکوی
يو نوے رنګ اخلی زمونږه افسانه جانانه!

زۀ تا ته نۀ ګورمه، ځان ته ګورم
ناست يمه خپل خيرې ګرېوان ته ګورم

دا ليونتوب به مې دېر زر بدنام کړی
چې ستا د حسن دې دوران ته ګورم

د اوښکې خاخکے اؤ د پرخې خاخکے
دواړو ته ګورم اؤ اسمان ته ګورم

زۀ ستا وېنا باندې له سره تېر يم
زۀ هغه نۀ يم چې سود زيان ته ګورم

ستا د ځوانۍ سپرلے اؤ دومره صبر
ساده! اوس زۀ هم ستا ايمان ته ګورم

زړهٔ مې را ته یاره! ډېر ډېر څهٔ وائی
تا ته دې دا کاڼے زړهٔ څهٔ نهٔ وائی؟

ستا خبره هم ناصحه! ښه ده خو
زهٔ هغه کوُم، چې څهٔ مې زړهٔ وائی

ښار کښې پېغور مهٔ ورکوه چا له هم
بد ګڼی، چې مړو ته څوک مړهٔ وائی

زهٔ کهٔ ډېر خواږهٔ وایم، تراخهٔ وایم
ښکلی کهٔ تراخهٔ وائی، خواږهٔ وائی

ماته ورته تار تار په درشل کېښودهٔ
اوس به مې څوک حال د ګرېوانهٔ وائی

په ساده! اظهار د مینې وکړه اوس
دا خبرې ټول خلق په خلهٔ وائی

زړهٔ مې ډېر شو ناقلاره، خدایـے دې خبر کړی
رقیب تېر شو په دې لاره، خدایـے دې خبر کړی
ما ووئېل، "هسې نهٔ یؤ بل نه جدا شو"
زړ ئې ووې، "چپ شه خواره! خدایـے دې خبر کړی"
وار خطا ئې، غلے ئې، اوتر ئې
څهٔ ئې ویلی دی رېباره؟ خدایـے دې خبر کړی
د بېلتون غږ دے، کهٔ تهٔ په رنځ پرېوځې
نن مې زړهٔ دے ډېر بې واره، خدایـے دې خبر کړی
د شهید زړهٔ کښې د کوم غرض تیارې وې؟
شعلې نهٔ خېژی له داره، خدایـے دې خبر کړی
د ساقی تندی کښې ګونجی نور ژور شول
سترګې سرې دی له خماره، خدایـے دې خبر کړی
نن سبا ما محبت ته کار وئېلے
چرته نهٔ شمه بې کاره، خدایـے دې خبر کړی

څه توکل دے، زهٔ هم تا جانان کؤمه
په ساده ښکلی نګاره! خدایـے دې خبر کړی

هر خنک چې منظر دے، ته پرې څهٔ کوې؟
درد دے کهٔ پرهر دے، ته پرې څهٔ کوې؟

تهٔ خو د منګی د ورو نه وتې نۀ
شر کهٔ اوس ګودر دے، ته پرې څهٔ کوې؟

تهٔ د خپلو سترګو لورې ؤخورې
خلق کهٔ نهر دے، ته پرې څهٔ کوې؟

تهٔ اوس په منزل باندې اودۀ اوسه!
لور دے کهٔ ژور دے، ته پرې څهٔ کوې؟

تهٔ د خپل جنت په خیال کښې مست اوسه
شر دے کهٔ سنګر دے، ته پرې څهٔ کوې؟

تهٔ هسې هم نهٔ وائې ساده ته یار
خبر کهٔ در په در دے، ته پرې څهٔ کوې؟

په زندګۍ مې بهروسه وه، خو بس ختمه شوله
زمونږ قېصه دېره اوږده وه، خو بس ختمه شوله

اوس دې خندا د چا په زړهٔ کښې لاره نهٔ ؤباسی
ستا د خندا بیله مزه وه، خو بس ختمه شوله

د محبت نشه مې اوس د سر نه ؤوتله
زما په رګ رګ کښې خوره وه، خو بس ختمه شوله

ساقی! چې ولې دې په جام کښې اثر پاتې نهٔ شو
ستا خو به ست کښې هم نشه وه، خو بس ختمه شوله

رقیبه! اوس سپړدې تنی ګرځه په کلی کښې تهٔ
تا ته په سترګو مې تیاره وه، خو بس ختمه شوله

څهٔ رقیبانو، غمازیانو، څهٔ جانان ملګرو!
کهٔ هر څو لوړه حوصله وه، خو بس ختمه شوله

جانانه! څهٔ به درته وایم، چې ژوند څنګه تېر شو؟
هسې د اوښکو سلسله وه، خو بس ختمه شوله

نن مې د زړهٔ پانه په اوښکو باندې ؤوینځله
سدهېره لیک پرې ستا نامه وه، خو بس ختمه شوله

دې خپل خلوص، د خلقو زباد مې زړګے دل دوبې کړو
ډېر زيات يقين اؤ اعتماد مې زړګے دل دوبې کړو

غربته! خدا ے شته دے کۀ تۀ به مې په خيال کښې راځې
د وطن غم، د جانان ياد مې زړګے دل دوبې کړو

يوې مرغۍ هم د صياد مرسته پرې نۀ ښودله
هره مرغۍ وائی، "صياد مې زړګے دل دوبې کړو"

زۀ ښکلو سترګو د شوکمارو غوندې ؤتروړلم
هر يؤ نظر لکه جلاد مې زړګے دل دوبې کړو

ساده باده زړۀ مې د دې قېصو نه څۀ خبر ؤ؟
ستا د وران کارو سترګو زباد مې زړګے دل دوبې کړو

زړهٔ کښې چې ارمان د جانان نهٔ لرې
پاخه! تهٔ خو دين اؤ ايمان نهٔ لرې

نهٔ سوزى، په تا مې زړګے نهٔ سوزى
شکر دے چې تهٔ هم ګرېوان نهٔ لرې

دا ارمان به هم درله پوره کړمه
نور به ګوے بل څهٔ ارمان نهٔ لرې!

ؤ مې کړو فرياد د سوى زړهٔ ورته
وې را ته رقيب، "تهٔ درمان نهٔ لرې"

اوس هم سور بېرغ زړهٔ پسې ؤنيسه!
وخت تېر نهٔ دے،بل څهٔ نشان نهٔ لرې

اے دغې! ساده د کتې کور دے ستا
دهٔکښې کورے هېڅ څهٔ تاوان نهٔ لرې

يؤ خوا حالات ، بلخوا مې خلقه! خپل غربت ژړوی
څهٔ مې ملګرو دازړهٔ چاؤدے محبت ژړوی

هغه چې تا را ته وئیلی وو، چې "مهٔ ژاړه نور"
هغه خبره مې اوس یاره! هر ساعت ژړوی

ما د هر چا د خپله وسه پورې خیال ساتلے
د دې نه پس به مې یارانو! بیا قدرت ژړوی

په زړهٔ غمګین یم ، خو رنګینو محفلونو ته خُم
په تنهایۍ کښې مې جانانه! شرارت ژړوی

زهٔ پرې ویرېږم چې بدلون به ورسره را نهٔ شی
ما په دې کلی کښې خور شوے بغاوت ژړوی

سبا به وائی سوېلو ته "سدهېر ما ژړوهٔ"
هغه خبر نهٔ ده ، سدهېر خو خپل قسمت ژړوی

دا هم د یار اؤ هم د دار لاره ده
ناصحه! دا لاره د کار لاره ده

راځه چې لاس یؤ بل له کلک ؤنیسو
هسې نهٔ ورک شو، دا د ښار لاره ده

ستا د بیلتون موسم کهٔ تېر شولو خو
د اوښکو اوس هم په رخسار لاره ده

ستا غېږ کښې وینم خپل سکون جانانه!
هم دغه لاره د قرار لاره ده

راغله اؤ پټ ئې را ته ؤوې غوږ کښې
سدهېره! دا د انتظار لاره ده

زمونږ په خاوره د پردو جنګ دے
شابے راځئ کور ته ورو! جنګ دے

مخکښې د امن د راتللو جنګ ؤ
اوس خو د امن په راتلو جنګ دے

ساقی پرې پر کړم اؤ کۀ خپله وینه
زما په سر کښې د نشو جنګ دے

موسم تود شوے په ګودر زړګیه!
د تنکو پیغلو په منګو جنګ دے

راځئ چې کرکه د دې جنګ نه ؤکړو
دا نۀ ختمیږی، د مودو جنګ دے

ساده یؤ تۀ ئې اؤ یؤ ستا دا جانان
په څۀ مو بیا ورو ورو جنګ دے؟

دا څوبمه ورځ ده چې په سترګو کښې مې نم راځی
زهٔ چې قدم اخلم، ستا یاد ورسره سم راځی

ارې ارې زرګیه! څنګ دې ورته ؤښایمه؟
چې پرې نازیږې تهٔ، له هغه لورې غم راځی

د دې سپیرو شګو سیلۍ ته فکر یؤرمه نن
زمونږ وطن کښې چې موسم ځی، نو موسم راځی

تهٔ مسافر لالی نه څهٔ خبر ئې، څنګ ژوندے دے
هغه په توره خړه ځی اؤ په تور تم راځی

ما هسې ځان کړلو ګانه د دې دنیا غم سره
ما وې چې دا وی، نو د یار غم به لږ کم راځی

تا به هېر کړے وی منم، تا هېرولے شو خو
جانانه! ستا یاد د <u>ساده</u> په هر قدم راځی

د خندا ډکو ډکو سترګو له ژړا به ګورو
وفا مو ؤلیده د ښکلو، اوس جفا به ګورو

خپله خبره کوُم، ما ژوندون په دې غرق کړلو
زهٔ د نن هر یوُ کار ته وېمه، چې "سبا به ګورو"

داسې کوو چې کشتۍ سیزو د منزل په لار کښې
زمونږ همت به ګورو، زور ستا د دعا به ګورو

د تیارو کار دغه دے ،پرېږده چې ګواښېږي لار کښې
مونږ د رڼا خلق رڼا غواړو، رڼا به ګورو

ساقي! دا نن شپه درنه تږې پاتې نهٔ شي، راځه!
د بیا غم مهٔ کوه، کهٔ مونږ ژوندي وو، بیا به ګورو

په هره لاره کښې ،هر کلي کښې ،هر ښار کښې مړهٔ شول
د پښتون وینه چې په کومه کربلا به ګورو؟

د ښار قاضیانو د ساده په فیصله کښې ؤوې
"ورومبۍ سزا خوښه کړئ، بیا ورله ګناه به ګورو"

نېغ نېغ را ته راګوری ، لېونی ته دې خدایه خبر کړي
رسوا نهٔ شی ، زمونږ مینې تنکی ته دې خدایه خبر کړي

زما ځوانی کهٔ خاوړې شی ، ایرې شی ، پروا نشته
جانانه! ستا غزل ځوانی ته دې خدایه خبر کړي

سرکشه دے ،خود سره دے ، چراغ دې خدایه په خبر کړي
رپیږی ، اور ترې اخلی ، دې سیلی ته دې خدایه خبر کړي

رالوتې پرې سیلی د خود غرضی د خپل مطلب ده
زمونږ کلیوالی اؤ ورورولی ته دې خدایه خبر کړي

ساده! زهٔ خو پرې خلهٔ ږدمه ، بیا ګورو به چې څهٔ وی
دعا کوه ، هغې تنکی نتکی ته دې خدایه خبر کړي

ژوند نه مې منده جوړه کړې ده، شاتار جوړ کړے
چې چرته نۀ کار ؤ، ما هلته ځان له کار جوړ کړے

اوس د رقيب نه رؤ ګودر خطا دے، څۀ ؤکړی خوار
اوس ما د کلی د هر يؤ ښکلی نه يار جوړ کړے

نن د خورو زلفو معنا باندې ما پوهه کړه ګلې!
وايه! تا دام را تهخور کړے دے، کۀدار جوړ کړے؟

ما خنکه واؤری دا پخپل زوړ کښې ورک شوے اولس
د ښار هريؤ سړی په ځان کښې ځان له ښار جوړ کړے

هر څوک راځی اؤ خپل بيرغ پرې لګوی اؤ ورځی
دا کور د چا دے؟ چې دې خلقو ترېمزار جوړ کړے

<u>ساده</u>! خمار کښې د کردار سپيځلتيا پرېښې نۀ ده
ساقی ئې پيژنی چې دۀ ځان له اتبار جوړ کړے

په غلا کهٔ په ښکاره کهٔ په تګې درله راوړمه
خو غیږ ته به جانانه! خوشحالۍ درله راوړمه

زاهده! دا یوه توبه دې ماته کړه! خوند واخله!
ورځمه مېخانې ته، یوۀ پیالۍ درله راوړمه

جانانه! سپیلنو باندې نظر ستا نهٔ ماتیږی
خو دا څلې دا نمر اؤ دا سپوږمۍ درله راوړمه

ورځم چې د سپرلی د راتلو زیرے درله راوړم
ورځم د سرو ګلونو یوۀ ډالۍ درله راوړمه

سدهېر ساده تهٔ کښېنه! دا دے لاړم ،دا دے راغلم
یوۀ نوے غوندې خیال د شاعرۍ درله راوړمه

يوازې غماز نهٔ دے، ګلے کور راپورې نخښلی
کهٔ ځان ترې نه رانغاړم، نو پېغور راپورې نخښلی

تر اوسه دخپل زړهٔ په دې يؤ خوى باندې پوى نهٔ شوم
بهر را ته څهٔ نهٔ وائى، خو کور راپورې نخښلی

يادونه د جانان ډېر زورور دى، اوس خبر شوم
چې څومره ئې شړم نو دومره نور راپورې نخښلی

زما نه په دې چم کښې بختور بل څوک دى ګله!
چې ستا په نامه شوے هر يؤ تور راپورې نخښلی

اوس دومره ده، چې ستا په کوڅه نهٔ شم تېرېدلے
په دې لار چې تېرېږمه، نو شور راپورې نخښلی

ساده د محبت د زور وژل غوارى ملګرو!
يار دومره زورور دے چې په زور راپورې نخښلی

د هر چا په زړهٔ کښې غلا ده، نهٔ پوهېږم
عجیبه غوندې دنیا ده، نهٔ پوهېږم

برناحقه چې به ما پورې خندل چا
نن هغه هم په ژړا ده، نهٔ پوهېږم

ستا راتلو سره پرې څهٔ چل ګلې وُشو؟
سپوږمۍ ډېره وارخطا ده، نهٔ پوهېږم

هر خوا وینې دی اؤ شور دے اؤ ماتم دے
پښتونخوا کهٔ کربلا ده، نهٔ پوهېږم

بیا دې نوم کوم ځوانیمرګ په خلهٔ اخستے
چې تول ښار کښې واویلا ده، نهٔ پوهېږم

زهٔ سدهېر ساده په یؤ دوه کښې حېران شوم
دا وفا اؤ کهٔ جفا ده، نهٔ پوهېږم

لکه چې درد په څریکو چغې کړی، درمان غواړی
داسې مې زړهٔ د تنهایۍ غېږه کښې ګران غواړی

کهٔ کله کله ئې غوښتلو، څهٔ خبره نهٔ وه
دا میرات څرڅے زړهٔ خو هر وختې جانان غواړی

زهٔ دخپل زړهٔ په دین ایمان باندې هېڅ پوهه نهٔ شوم
کله طواف کړی د کعبې، کله بتان غواړی

یا ستا د مینې یا د قام د مینې تور دی ښکلیه!
حالات به نور په څهٔ بانه زما ګرېوان غواړی

ساده! پښتون هم عجیبه ژوند په دنیا تېروی
ګوره چې خپل کور ورانوی، د بل ودان غواړی

د ورځې غم، د شپې ژړا راکوی
په محبت کښې دا سزا راکوی

زما د زړهٔ علاج به څنګه وشی؟
درد چې پخپله مسیحا راکوی

د ښکلی زړهٔ کښې توکېدلے دے شک
ډېر قسمونه نن سبا راکوی

لکه ماشوم مې اول وژړوی
بیا را له وروستو یار خندا راکوی

ځار شم د خور مینې نه ځار شم خلقه!
چې په ښېرو کښې هم دعا راکوی

زما ملګری شول ستانهٔ لارې نه
ما له زما د ننګ سزا راکوی

ساده د ښکلو د دیدن لاپې دی
زړهٔ را له هر وختې سودا راکوی

دهر چا زړهٔ به وی داسې ،اؤ کهٔ دے را ته ښکاره شو
کله ژاړی، کله خاندی، لېونے را ته ښکاره شو

خدایه کور د گمان وران کړې! پرون داسې کانه ؤشوه
کوم جانان چې زما خپل ؤ ،نو پردے را ته ښکاره شو

سپورې شوندې ،جاښه زلفې ،مستې سترگې اؤ ژوندے زړهٔ
په خزان جانان کښې ،نن سپرلے را ته ښکاره شو

گوره دار باندې ولاړ دے ،بیا هم حق اؤ ریښتیا وائی
دا سړے ډېر زورور دے، مېړنے را ته ښکاره شو

<u>ساده</u>! ډېر شوگیر دې ؤکړو، د بیلتون په تورو شپو کښې
اوس دې سترگو نه چاپیره، ماښامے را ته ښکاره شو

د نمر نه رون دے، د سپوږمۍ نه ښائسته دے جانان
د خپل ښائست په خلهٔ گويا نغمه نغمه دے جانان

دا د موسم سر کښې خور شوے خمار نهٔ څائيږي
اؤ کهٔ ملکرو! په ماښام نشه نشه دے جانان

ما ته لا وائی، تهٔ زما نه بغېر خوب څنگه کړې؟
پخپله خبر کهٔ په رڼا ماښام اودهٔ دے جانان

زهٔ څهٔ وئيلے شم، زهٔ څهٔ ؤوايم، څهٔ به ؤويم؟
اے سيلۍ غوږ شه! د مودو پس په قېصه دے جانان

د زلفو باد کمځۍ نه خور شو، د سپرلی غېږه کښې
په ټول ماحول باندې راخور لکه وږمه دے جانان

ما خو وئېل چې گنې زهٔ ساده، ساده يمه ډېر
خو دومره زهٔ نهٔ يمه، څومره چې ساده دے جانان

يۆ خوا هغې د ښائستونو سمندر ګرځوۀ
بلخوا ته ما د ارمانونو ډک ځيګر ګرځوۀ

د سپرلی دا سود به ملګرو چرې هېر نۀ کړمه
رقيب به ګل ګرځوۀ، ما به تش ډندر ګرځوۀ

ستا دښائست سيور ے ښکاره شو د ماښام سره سم
ستا د ښائست تصوير په سترګو کښې سحر ګرځوۀ

اخر رسوا شوم،ما چې نۀ غوښتله، هغه ؤشوه
ما به په تا پسې چاپېره خپل نظر ګرځوۀ

منزل په شړق مونږه ويشتلو د مزل مينه کښې
مونږه کډوالو خو په هر ګام کښې سفر ګرځوۀ

اے ساده! ستا د غزل نوره څۀ ستائنه ؤکړم
ما دير نه يۆړو، په خبېر اؤ اشنغر ګرځوۀ

څکه خو به سر کښې مې مازغهٔ سوزی
ستا راباندې یاره! چې زړهٔ نهٔ سوزی

شوندې چې جانانه! بیا سرې نهٔ کړې تهٔ
زهٔ چې درته ګورم، زما خلهٔ سوزی

تا باندې رغیږی، خو تهٔ نهٔ ورځې
ورشه اے بې ترسه! ستا پرې څهٔ سوزی

ما ته پیغورونو کښې یؤ څل پیرزو
دومره ډیر تراخهٔ چې وی، خوارهٔ سوزی

خبر کهٔ ساده هم د کوکۍ غل ګنی
دلته تل په وچو کښې لواندهٔ سوزی

د ننګ او پت هره قېصه خرڅه شوه
چې د تورسرې لوپټه خرڅه شوه

ما سره وېره د جومات پېدا شوه
نن چې د مړو اديره خرڅه شوه

ستا د پستې خلې د قربان نه لوګے
زما سلګۍ په دلاسه خرڅه شوه

اوس خو ستا خوښه ده ، راځې او که نهٔ
د انتظار شپه په وعده خرڅه شوه

بخښنه نهٔ غواړم ، پوښتنه کوم
په څهٔ د دين اسلام نعره خرڅه شوه؟

د سړيتوب او نېک نامۍ نامه خو
د سپکو ښار کښې په تکه خرڅه شوه

ساده! د خپل سر غواړه خېر ، غلے شه!
تهٔ ګورې نهٔ چې زمانه خرڅهٔ شوه

چې خنک نې ؤلیدو ښائست زما د یار ملګرو!
ځان څۀ نیمګړے غوندې ؤګڼو بهار، ملګرو!

اوس کۀ ازغی مې مخ راؤشوکوی، نۀ خوربږم
ګل چې راکړے دے د زړۀ په سر ګوزار ملګرو!

نۀ هغه راغله، نۀ د چا نه نې پوښتنه ؤکړه
ما چې دا ژوند تېر کړو د چا په انتظار ملګرو!

زۀ دغه لوظ کړم چې دا تیارې به ورکې کړمه
چې مې د ژوند نمر ځریکه ؤومی په دار ملګرو!

د قام د مینې نغمې ؤشوروئ، چرته چې څوځ
مست کړئ! راویښ کړئ د اودو خلقو بازار ملګرو!

پرېږدئ چې ؤوینې د خپل ستم انجام ښکلی هم
ځان ورته نور هم په قلار کړئ، ناقلار ملګرو!

اوس د سحر سیلۍ راؤړی را له خبر د جانان
اوس حاجت نۀ لرمه زۀ د یۇ رېبار ملګرو!

هغه به څۀ تاسو ته وائی، چې د چا د لاسه
د ساده زړۀ باندې زخمونه دی بې شمار ملګرو!

د دیدنونو اهتمام وکړئ
نظر په هاغه پورې بام وکړئ

د لیونی تنده بې خوده شوله
شابیہ! تابیا ورله د جام وکړئ

یه ښکلو! ګل نهٔ سهی، کانی سهی
څهٔ مېلمستیا د دې بدنام وکړئ

بدګمانیہ مې دی د قلم په زړهٔ کښې
د دې سپېرو خو قتل عام وکړئ

سحر د روغې زېړے وکړئ په مونږ
اؤ جنازه ئې په ماښام وکړئ

<u>ساده</u> په زلفو کښې دېر زر کېوځی
ورته سر ښنه لږ د دام وکړئ

چې ستا د سترګو نه يې اور واخستو
زما د زړهٔ پرهر تکور واخستو

هسې مې ؤوې، چې ښائسته دے ګلاب
هغه ظالم ورپسې لور واخستو

اوس کهٔ شوک توان لری، نو غلے دې کړی
زما د قام خاموشۍ شور واخستو

اوس به مې سترګې شی مړې په ښکلا
چې مې د ښکلو چم کښې کور واخستو

رقيب خپل ځان ته ملامت ؤدرېدو
ما چې د يار په سر پېغور واخستو

خوب کښې يې چغې کړلې، "دا ګناه ده"
شېخ جوړ د چا د بنګړو شور واخستو

ما وئېل اور د محبت مې مړ کړو
ساده! زما زړګی خو نور واخستو

د پیغور چغه شوله، مینه تماشه شوه ګرانه!
زمونږ خبره کۀ وړه وه، خو قیصه شوه ګرانه!

اوس مو په ځان د دروغژنو ګمان ؤشو، ګوره!
څۀ مونږ شمکور شو اؤ څۀ خړه ائینه شوه ګرانه!

ستا د کوم لوظ په داړ اوښکې ؤچوی سترګو نه
چې د بېلتون سلګۍ خندا نه تکه شنه شوه ګرانه!

تۀ مې ملاتړ ؤکړه، چې نیمه لار کښې پاتې نۀ شم
څۀ زۀهم سترے شوم اؤ څۀ لاره اوږده شوه ګرانه!

بیا د پښتون د کور دېوال شو چاؤدے چاؤدے لوېږی
بیا د نړۍ په مخ ښکاره څۀ حادثه شوه ګرانه!

<u>ساده</u>! اودۀ شه میرات خړخیه! خوب نۀ درځی څۀ؟
سپوږمۍ زمونږه په کټ واؤرېده، ستنه شوه ګرانه!

د خپل ارمان په قبر ماتو بنګړو ته ګښېنم
کۀ د مئېن په مزار، بلو ډيوؤ ته کښېنم

يؤ خوا دزلفو سيور ے ، بلخوا غارمۀ د سپين مخ
چې تنګ په سيورى شمه ، پاخم غرمو ته کښېنم

تۀ ما له مرګ خوښوې ، زۀ تا له ژوند غواړمه
تۀ به سر ته کښېنې ، زۀ به دې پښو ته کښېنم

ما دسرو سرے کړې ، ما دجرګو سرے کړې
چې پښتنو ته پاخم، چې پښتنو ته کښېنم

د يار تپوس کؤمه، د يار د چم خلقو نه
د ګل قېصې د پاره، ساده! ازغو ته کښېنم

دا غزل د خدای بخښلی صاحب شاه صابر په طرح ؤلیکلے شو اؤ د پښتنو دېره سره مانی (ریاض ښار ، سعودی عرب) کښې واؤرولے شو)

لکه نغمه ، لکه ټپه ، لکه غزل ملګری
زما په دې ښار کښې بلها وو د محفل ملګری

ما په ملګرو کښې چن کړی دی ملګری ځان له
ښېسته ښېسته ، رانۀ رانۀ ، اتل اتل ملګری

دا رناوے کوو چې کوم شوک په پښتنو مئېن دے
راځئ! نن ګورو د پښتون اؤ د مغل ملګری

خواران د مینې محبت په خوړو پوهه نۀ شول
د خپتې غم را له اخته کړل په توکل ملګری

چې زۀ په تا باندې مئېن یم ، تۀ په ما مئېنه
ځم چې د دې نه خو خبر کړمه اول ملګری

زۀ چې د خلقو ملګرتیا اؤ دا ملګری وینم
وېم چې په زړۀ پورې مې ؤنیولے خپل ملګری

زهٔ داسي نهٔ ؤم ، لکه نن چي خنکه يمه اشنا!
زما هم وخت ؤ ، ما نه هم به څاريدل ملکرى

هغوى په نيمه لار ستانهٔ شو ، ما پرې ملا تړله
د مرګ دوېرې نه بې زړهٔ شول په مقتل ملکرى

د خپلو اوښکو امېل ما پخپل ګرېوان کېښودهٔ
چې وخت سره مې دم په دم کله بائېلل ملکرى

ښه شوه چې مرسته د ساده مصلحت ؤکړه وختهٔ!
ګڼې نو تا خو ترې ظالمه شوکول ملکرى

خوند دې د تۆدې تماشې نۀ ماتوم
زۀ مې خاموشی په قبصې نۀ ماتوم

ما له کۀ ئې سم مخ هم کوږ کړیدے
بیا هم گوره زۀ ائینې نۀ ماتوم

ښۀ یمه زۀ، ستا ولقه کښې ښۀ یمه
مۀ ویرېږه! زۀ زولنې نۀ ماتوم

نن مې ورته ۆژړل، نو ۆ ئې وې
"بس دے یاره لنورې وعدې نۀ ماتوم"

شېخ چې پړخېدلې خېته پاخېدو
ۆ ئې وئېل، "بیا به توبې نۀ ماتوم"

هسې د ساده سره کۆم توقې
زړۀ ورله خدائېکو دغې! نۀ ماتوم

هر سړے په تول پوره تللے جانان غواړی
روغ دے که رنځور دے ، خو بس ښکلے جانان غواړی

مینه د پی، مخو دومره ګرانه نهٔ ده چم کښې
دا ده ، چې کهٔ ډېر نهٔ وی ، د یوُ زړهٔ تاوان غواړی

خدایه! دا د کوم دور ژوندون مو شو په برخه
انسان چې په دې دور کښې انسان نه امان غواړی

یه د ولولو ګلونو! دا حالات مو مړهٔ نهٔ کړی
نېغ شئ! لړې نېغې نېغې سترګې خزان غواړی

ستا لوظ کهٔ مات شی ، پروا نشته ، خو تهٔ وُ ئې کړه
دومره څهٔ وره شان دلاسه مې ارمان غواړی

لارې د شوکمارو لاپو نورې هم مبهمې کړې
یه ملګرو! مونږ نه اوس کاروان څهٔ نشان غواړی

مینه اؤ ایمان خو ستا ساده ته یوُ دی ښکلیه!
دواړه خلوص غواړی ، دواړه زړهٔ کښې ډېر توان غواړی

یاره چې ستا په خیال غزل لیکمه
بیا د کمال کمال غزل لیکمه

ښنکه چې کال په کال راځې جانانه!
داسې زهٔ کال په کال غزل لیکمه

تفسیر به دېر اوږد شی یه ګلابه!
کهٔ ستا د مخ په خال غزل لیکمه

په محلونو خو هر چا ؤلیکل
زهٔ به په زوړ چوپال غزل لیکمه

ما ته پرې خپل ځان بختور ښکارېږی
ستا د تندی په فال غزل لیکمه

د دنیا غمه! لږه ساه واخله ته
زهٔ په جانان فی الحال غزل لیکمه

سترګې دې دومره خوبولې دی چې
هر وخت غزال غزال غزل لیکمه

خپله شلېدلې شړی نهٔ یادوُم
ستا په سالو اؤ شال غزل لیکمه

ځان را ته ډېر ساده ساده ښکاره شی
چې د دې وخت په چال غزل لیکمه

ځما به غزل کړے شې ساده شاعره!"
اوس دې په دغه سوال غزل لیکمه

خپلو په شړه ډاګه پرېښوم ، پردو سيور ے راکړو
زۀ چې دچا نه وېرېدمه ، هغو سيور ے راکړو

بې پښتو نۀ ؤمه ملګرو! بې پښتو نۀ شومه
اخر پښتون ؤم ، ما له خپلې پښتو سيور ے راکړو

ښه شوه چې تۀ ئې مورې! ما به کنې څۀ کول بيا
ستا دعاګانو را له‌تل په غرمو سيور ے راکړو

چرته چې زۀ ؤم اؤ زما د ګناه دروند پېټے ؤ
په هغه ورځ مې را له خپلو توبو سيور ے راکړو

ساده! دې ښکلو خو خپل حسن په ما ؤويشلو
چا خوږې خلې راکړې اؤ چا دزلفو سيور ے راکړو

کهٔ هر څو د ښکلو ښار کښې مونږ برباد شو
خپله مینه اؤ خپل صبر باندې زباد شو

چې په خود کښې ؤم ، نو ډېر څهٔ را نه هېر وو
چې بېخوده شوم ، نو هر څهٔ را په یاد شو

د موسم زانې د دې خاؤرې نه لاړې
د وطن طوطیان پخپل وطن اباد شو

زهٔ د خپل قوم په سحر باندې ویرېږم
چې څلمی مې خشاکونه د فساد شو

اوس سرونه سوداګانو نه ازاد شول
اوس مو زړونه د پرهر غېږه کښې ښاد شو

ورځې ؤشوې ، په درشل دې حاضر نهٔ شو
حاضرېږو ، خو کهٔ تا ته چرې یاد شو

د ساده صبره! لا ساه اخله! مړ مهٔ شې
د ستم نور ډېر رنګونه اوس ایجاد شو

راځئ چې دا تپوس خو وکړو د ځان خپل نه ورونو!
اخر دا څوک دی چې تېرباسی مو منزل نه؟ ورونو!

راځئ چې یو بل له لاس ورکړو، یو وجود شو سره
دښمن لګیا دے بیلوی مو د یو بل نه ورونو!

اوس پېښور هم ځاے په ځاے د ادیرې تصویر شو
لا جنازې خو ووتې نهٔ وې د کابل نه ورونو!

منم چې ډېره لار په سر د لا د امن کور ته
د پښو تناقې مو ایسار نهٔ کړی مزل نه ورونو!

د باچا خان د فکر لوی کور استانه کړئ خپله
حالات مو چرته ستانهٔ نهٔ کړی دې درشل نه ورونو!

راځئ چې خپلو کښې جرګه شو، مرکه شو، یو شو
راځئ چې وباسو نفرت د خپل ګوګل نه ورونو!

په دې حالاتو کښې به ورونو! جانان څنګه ستایم؟
دې اور مې وسېزل رنګونه د غزل نه ورونو!

اے د ستم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!
نور د صنم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!

ما ته چې را یاد شی، په ما غونی څیږ څیږ کیږی
بیا ئې د چم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!

اوس ښکلو ېخ کړی د ستم تېرهٔ نوکونه
اوس د ملهم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!

زړهٔرا له چن کړے دے، څهٔ خپلو څهٔ د نورو
ما ته د غم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!

دلته هر یوسف د زلېخې ګرېوان ته ناست دے
دلته د زغم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!

زهٔ ساده ؤم، زهٔ څهٔ پوهېدم چې وارهٔ خاندی
تاسو د مم نوم هم په خلهٔ مهٔ اخلئ ملګرو!

ښکلی خو پخوا نه خودغرضه وو
مونږه هم اوس غلا زړهٔ کښې نيولې ده

اوس خو د ژوندون ارمان هم نهٔ لرم
اوس دې زما ساه څهٔ کښې نيولې ده

صبر هم څهٔ شے دے د وصال په لار
تا تږده نمرۍ خلهٔ کښې نيولې ده

تا ته ورارهٔ وائی اؤ ستا ورور ته څوے
دا گوته مې ستا ترهٔ کښې نيولې ده

مرګ وی کهٔ ژوندون وی ،وی دې تا سره
ما دغه دعا زړهٔ کښې نيولې ده

دا ساز د پښتنو دے، دا غزل د پښتنو دے
راځه یاره چې ورشو، دا محفل د پښتنو دے

د لر اؤ بر خبره خو بیخی منځ نه ؤباسو
باګرام د پښتنو دے، هم کابل د پښتنو دے

ملګرو! هغه لوی د اشنغر ملنګ را یاد کړئ
ملګرو! د هغۀ لاره منزل د پښتنو دے

ملګرو! اوس قلم د توپک ځاے دے اخستلے
ملګرو! هغه زوړ مزاج بدل د پښتنو دے

ساده! پښتانۀ ولې تل په لار کښې تالا کیږی؟
ساده!الکه چې مشر شوک درغل د پښتنو دے

(د ښاغلی شمس القمر اندېش په زمکه)

د شپې ولقې نه د امید سحر ته ۏرسېدم
چې د ښائست د ښاپیرۍ نظر ته ۏرسېدم

ښار ته روان ۏم، خو چې څنګه غر ته ۏرسېدم؟
”زۀ د ژوندون د لارې هاغه سر ته ۏرسېدم“

زۀ د راندۀ د لاس غرګے ۏم په ځان پوهه نۀ شوم
بیا د جومات په لاره نېغ ګودر ته ۏرسېدم

د ژوند په ځاے چې مې د مرګ کله لتون شروع کړو
د مرګ د غېږې نه د ژوند رهبر ته ورسېدم

اوس هم پښتون فطرت د جنګ اجازت نۀ راکوی
په انتقام پسې کۀ هر سنګر ته ورسېدم

زۀ ستا د غم په راتلو هېڅ کله خفه نۀ يم خو
غم به دې وائی چې دا څۀ کندر ته ورسېدم

بيا را ته هم سدهېره! ځان د زمکې تل کښې ښکاری
کۀ ترې هر څو په بره لاړم، نمر ته ورسېدم

وائی "چې سر وی، نو توپۍ دېرې دی"
دلته توپۍ لږې، کوپړۍ دېرې دی

ساقی نن شیخ ته داسې ؤوئېل چې
"خدائے دې راوله، پیالۍ دېرې دی"

په ویښه دار، په خوب کښې دار وینمه
ښکاری وطن کښې مې رسۍ دېرې دی

اغیاره! تا ته لا ؤزګار نۀ یو مونږ
زمونږه خپلې تربګنۍ دېرې دی

لا دلته شمعې بلېدلې نۀ شی
لا خو په دې ښار کښې سیلۍ دېرې دی

څۀ ستا د مینې غرور هم شو ګلې!
څۀ د ساده خپلې مستۍ دېرې دی

د لوظ په مرۍ چې د بانې چاره راکاږې
زما په هر امید، هرې اسرې چاره راکاږې

دغې! پخپل ستم باندې دې څنګه پښه راکښلې
دغې! په څهٔ هنر مې په ګیلې چاره راکاږې

صاحبه! تا زما خطا د غر نه کړله لویه
پخپلو ګناهونو د توبې چاره راکاږې

جناب!زهٔ هم په یوٌ جومات کښې تا سره ؤدرېږم
جناب! بیا مې په څهٔ په عقیدې چاره راکاږې

تر هغې په دنیا د امن خوب دروغ دی
تر څو چې په پښتون قام زمانې! چاره راکاږې

ساده زما د زړهٔ په غوڅو غوڅو پرهرونو
چې څې چاره راکاږې، چې راځې چاره راکاږې

خور شی، بیا را تول شی اؤ خندېږی ګل
تهٔ چې کوتې ور وړې، نو تخنېږی ګل

ستا د راتلو زېرے د موسم په خلهٔ
اوس د امید دشتو کښې توکېږی ګل

ستا په رنګې ښکلی په ګل څهٔ کوی؟
ستا په رنګې ښکلو ته پسخېږی ګل

ستا مخ ترې نه ښکلے دے،دېر ښکلے دے
ستا څنو کښې دېر پیکه ښکارېږی ګل

ما له ئې تعبیر راکړئ، چې څهٔ دی دا؟
زهٔ په خوب کښې وینمه سوزېږی ګل

دا د وصال شپه اؤ دا تۆده غېږه
بیا هم د یخنۍ نه مې رپېږی ګل

یه ساده! د حسن جادوګر ئې تهٔ
ستا د کوتو وړو سره شوخېږی ګل

بیا به د ښکلو ښاریه کښې ځان خېرات نهٔ کړمه
دا دومره بس ده، نور به غم ځان لره زیات نهٔ کړمه

د وخت جلاد کهٔ را ته هر څو تېره توره ښائی
خو د جانان سره به کړے لوظ مات نهٔ کړمه

زهٔ به پښتون نهٔ یم، د دې خاورې بچے به نهٔ یم
چې بیا ودان بېرته د سوات خلقو له سوات نهٔ کړمه

چې تا ته ژاړم، بل ته ژاړم، ولې نهٔ پاڅمه
پخپله ولې زهٔ بدل دا خپل حالات نهٔ کړمه؟

<u>ساده</u>! ځلے یم، پیغله وینه، ځوانه مینه لرم
زهٔ خپل غزل ولې د ښکلو په نوم شات نهٔ کړمه؟

خانه بدوش له کوره څهٔ خبر دی
دغه د ژوند له شوره څهٔ خبر دی

زمونږ د صبر ئې پوختیہ ماتې کړې
ښکلی له خپله زوره څهٔ خبر دی

سپینې جامې ،ږیرې اؤ لوی لوی پټکی
شېخان د ښار له اوره څهٔ خبر دی

هماغه، چا چې دا وطن ؤلوټهٔ
د دې وطن له پوره څهٔ خبر دی

د چیتې زور باندې بې حسه څلمی
د ویخ احساس له سوره څهٔ خبر دی

ساده! اوسیږی محلونو کښې چې
هغوی زمونږ نه وروره څهٔ خبر دی

ژوندون ژوندے ساتی ، د ژوند کردار ژوندے ساتی
لا لېونی شته دے ، چې اوس هم دار ژوندے ساتی

هغه به مړ شی ، خو کهٔ ستا یادو ترې لاس واخستو
ستا د راتلو لوظ اوس هم بیمار ژوندے ساتی

کهٔ خزان هر څو په بدن کښې ورله ساه نهٔ پرېږدی
ګلونه بیا هم د سپرلو وقار ژوندے ساتی

انجام مې دا دے ، چې مړ کېږم د بېلتون لاره کښې
ستا محبت به مې نور څومره یار! ژوندے ساتی؟

د هغوی څهٔ کهٔ په دې خاوره لوړې ؤتوکیږی
د سیاست خلق پرې خپل اختیار ژوندے ساتی

ساده! قسمت را سره داسې توقې ؤکړې دا ځل
ما د دردونو غېږ کښې هم قلار ژوندے ساتی

دلته ګلاب نشته ،غانټول نشته ،شړشم نشته دے
دلته د زړهٔ د خوږېدو هډو موسم نشته دے

زما پرهر ته په زړهٔ سواندی نظر مهٔ ګوره تهٔ
دا چې پرې روغ شی ،تا سره هغه ملهم نشته دے

زهٔ د پردی غم په سر خپلې خوشحالۍ ماتې کړم
زما په غم باندې يوې سترګې کښې نم نشته دے

د څهٔمودې نه مې دې زړهٔ ته ځان بې خوکه ښکاری
د څهٔ مودې نه ستا څهٔزېرے د ستم نشته دے

د دلاسې لاس چې زما د سر نه لرې کړو تا
جانانه! اوس د ژوندانهٔ په ما کښې زغم نشته دے

ساده! جذبې دې ايجازې نه بهر شوې دی اوس
بې ستا د ياره اوس بل چا سره ستا دم نشته دے

خپل خوږ ملګری خدای بخښلی اجمل منصور ته

اې د لفظونو جادوګر شاعره!
لارې د ژوند نه مرور شاعره!
ستا هر کلام ده د رڼا پلوشه
لکه چې زېرے د سحر شاعره!
تهٔ د ملګرو محفلونو ګڼې نې
د دېر نه واخله تر خېبر شاعره!
تا د سندرې رنګ ورکړې ورله
تا ګویا کړے هر پرهر شاعره!
تا نه څان هېر ؤ د پښتو مینه ګڼې
څکه یادېږې لر اؤ بر شاعره!
په نیمه لاره ګڼې دې پرېښودلو
د ژوندانهٔ اوږد سفر شاعره!
د پښتونخوا خاوره نازېږی په تا
خانه بدوشه! مسافر شاعره!
رب دې نصیب کړه جنتونه ګرانه!
دعا کؤم د خدای په در شاعره!
سدهېر ساده‌په زړهٔ بور بورے شو
ستا چې د مرګ راغلو خبر شاعره

دا نهٔ چې يوازې ئې په ما سر ګرځولے دے
ښکلو خو ملګرو! په هر چا سر ګرځولے دے

ورشۍ! د رکوع په ځاے بې واره سجيدې له ځی
اے! د ګودر رنګ نن په ملا سر ګرځولے دے

يه خانه! وختی کهٔ را له غم زړهٔ غورځولے ؤ
راشه! اوس په ما باندې خندا سر ګرځولے دے

ؤلوېږی، راپاځی، بيا راپاځی اؤ بيا ؤلوېږی
دا ځل لاړوؤ باندې صحرا سر ګرځولے دے

سړ کال ستمګر جانان په شا شو ستمونو نه
سږ کال زما صبر په جفا سر ګرځولے دے

کوم ښکلے د کومې کوڅې غل کړم ستا دزړهٔ وايه
يه ساده! په تا باندې چا چا سر ګرځولے دے

ستا چې د ښائست شمعې لمبه کمزورې کړې ده
مونږ د لېونتوب تۆده قېصه کمزورې کړې ده

شېخ چې په منبر خومره توبې له زور ورکړے دے
دومره ئې د رند کلکه توبه کمزورې کړې ده

مونږ دانتظار نه خپل ژوندون صدقه کړے دے
تا بیا په بانه باندې وعده کمزورې کړې ده

مونږه ئې واردات گڼو کۀ هر څۀ هر څۀ وائی څوک
وروره! څو شکونو حادثه کمزورې کړې ده

اوس په مازیگر کښې بام ته نۀ خېژې گلرنگې تۀ!
اوس دې د رنگونو تماشه کمزورې کړې ده

ستا اوښکې بې وسه دی ،بې څوکه دی ،مجبورې دی
ستا اوښکو ساده له حوصله کمزورې کړې ده

هلته لوظونه د باور نه تېرېدل په رو رو
دلته دړدونه د زغم حد نه اوړېدل په رور

ښه شوه، چې راغلې، کنې رو رو مې له یاده وتې
وخت مې د یاد نه ستا نقشونه ورانول په رو رو

زۀ پخپل ځاے لکه د وران کندر شوم پاتې اخر
چې د موسم په بدلون ما نه یاران تلل په رو رو

زما پښې زمکه کښې په رو رو ښخېدې، ډوبېدې
څۀ پراوونه را نه لار کښې روکېدل په رو رو

<u>ساده</u>! تیارې کۀ خورېدلې په تادۍ په ښار کښې
<u>ساده</u>! مونږ هم نور چراغونه بلول په رو رو

اے زړۀ! ستا کور ته د وفا د کلي خان راغلے
په موده پس باندې درشل له دې جانان راغلے

دومره بې ذوقه خو به نۀ وو د دې ښار استوګن
ما له د خپل سر ماتولو اوس ارمان راغلے

دا چې په هر قدم بلیړی د وحشت غرغندې
ښکاری چې دلته هم څۀ وخت لره انسان راغلے

زۀ ځان ته ګورم او شکی شم ، لکه دا چې تۀ یې
زما په ځان باندې جانانه! ستا ګمان راغلے

په شرق د سود او زیان قبضې وله ساده! خندیره!
زمونږ د کټې کور ته هسې هم تاوان راغلے

څۀ به رقيب وی ، څۀ به وی د هغۀ دوړه دباؤ
تۀ څۀ کم نۀ ئې ، تۀ‌پرې هم کوه زړۀ! دوړه دباؤ

تتو دې سيوری باندې ؤتړه د وخت واکمنه!
د چا هم نۀ منی په ځان پښتانۀ دوړه دباؤ

د ښکلو هيڅ مۀ وايۀ ، ښکلی زورور پيدا دی
شوندې ئې ګواښ کوی اؤ سترګې ليمۀ دوړه دباؤ

زما د مرګ نه سترګه نۀ سوزی اؤ دۀ ته ګوره!
دا ژوند په ما کوی جانانه! د څۀ دوړه دباؤ

<u>ساده</u> د اوف طاقت هم نۀ لری د ښکلو مخکښې
ښکلو داده کوئ په دې بې څوک ښۀ دوړه دباؤ

زهٔ به دې شمارم ، تهٔ مې شماره ورځې
د لېونتوب دا نا قلاره ورځې

د سپينې ورځ په مخ پسې ړندې شوې
د زلفو ول کښې ګرفتاره ورځې

والله چې ورک شم ، نو يادېږی به مې
دا بې سروره بې خماره ورځې

اوس د برداشت د حد نه ؤوتلې
په پردیہ خاؤره بې روزګاره ورځې

دا لندې شوې لکه ساه تورې شپې
دا اوږدې شوې تر د داره ورځې

اے ساده! مونږه ورته نور نهٔ يو جوړ
دا شوخ موسم اؤ بې دلداره ورځې

دهر چا اوړی، خو زما په غږ نې ځان کوڼ کړے
زما په خیال باندې ددرد وېرې درمان کوڼ کړے

د شر نه نهٔ وېرېږم خلقه! خو د چا چا سره؟
دا بې وسی سهی، کهٔما په دغې ځان کوڼ کړے

اوس دې الله پامته دار شی، د پسرلی د جوبن
د ګل سلګو باندې یارانو ځان خزان کوڼ کړے

راځئ چې یؤ بل له لاس ورکړو اے د کلی خلقو!
د کلی خان خو ځان زمونږه په تاوان کوڼ کړے

کهٔ تندې مړ کړم، نو زما خون د ساقی د غاړې
دا چې زما په حال نې ځان لکه جهان کوڼ کړے

خوک به د دهٔ قبصه کوی د محبت خدایه!
یؤ خوا ساده چاړا دےبلخوا دې جانان کوڼ کړے

درد غواړي ، پرهر غواړي اؤ وير غواړي
زړهٔ لېونے شوے ، ستا تصوير غواړي

تا سره د ژوند په لار سفر اؤ زهٔ؟
دا خو ښهٔ قسمت غواړي ، تقدير غواړي

وخت را سره ښه سوداګري کوي
ژوند را کوي خلقو! خو ضمير غواړي

پاڅئ! بده ورځ مو سموئ ځلمو!
ورانه ماشوره ده ، دا تدبير غواړي

ستا کوځه کښې ښکليه! سدهېر ساده
بيا له خوده وُتے دے ، زنځير غواړي

داسې مې ستا ياد سره زړۀ خانه خراب غرېږي
لکه په غېږ د همايون کښې چې رباب غرېږي

زۀ داسې ستا د محبت په داډ سندرې وايم
لکه موجونو باندې څنکه چې درياب غرېږي

دلته د زړۀ ښراس ؤباسي، دلته غم هېروي
دا مېخانه ده، دلته هر سړے جناب! غرېږي

د دې سړي مخ نيوے ؤکړئ، ګنې ډوب به مو کړي
د شر په مرسته کښې د امن په محراب غرېږي

اوس پښتنو د خپل منزل لاره موندلې ساده!
اوس ئې په زړونو کښې نغمې د انقلاب غرېږي

د انتظار شپه اوږده شوې ستا د زلفو هومره
زما د زړهٔ نه دامید رڼا هجرت کړے دے
هغه وطن کښې دېره شوے توربان د نفرت
هلته نه اوس دمحبت هوا هجرت کړے دے

دومره بې وسه، بې همته خوزهٔ چرته نهٔ ؤم
د چا نظر دے اؤ کهٔ نه، بې غېرتوب واخستم
زما نه هغه کيلې، هغه قبصې بيا پاتې شوې
د جانان غېږ ته رسېدلو سره خوب واخستم

زړهٔ کښې مستی کونده توبه کونده شوه
چې ساقی مړ شو، مېخانه کونده شوه
لاړه دعا د ساده ؤووهله
چې د وادهٔ په ورومبۍ شپه کونده شوه

په برق برق مهٔ خانده! دخلقو نه به زړهٔ ؤباسې
په زړهٔ کمزوری خلق ستا د خندا توان نهٔ لری
دا خو یؤ زهٔ یمه، چې غم له دې غاړې ورکوٍم
جانانه! بل سړے د دغه بلا توان نهٔ لری

د ارمان شا باندې ولاړ دے جانان
زړهٔ به مې خنک ارمان ته ؤګوريږي
لاس چې ئې نهٔ رسی د وخت په جبر
د بې وسۍ نه ځان ته ؤګوريږي

پرېږده اوس به خلې نه ئې الفاظ بې خوده ؤباسې
دومره مينه هم نهٔ چې سرے د خوده ؤباسې
نهٔ رسی زما يوې روپۍ ته د حلالو دا
تهٔ کهٔ دې سحر ماښام زکات د سوده ؤباسې

چا لاس د بل د پاره پورته نهٔ کړو
هر سړے وائی "خدایه! ما ته خبر کړې!"
چې مې جانان تر څو ګټلے نهٔ وی
خدایه! تر هغې دې دنیا ته خبر کړې

خبتې د روزګار په ژبه پوهه کړم
زړهٔ د معصوم یار په ژبه پوهه کړم
دغه کلیوال، ساده باده سړی
خلقه! زهٔ د ښار په ژبه پوهه کړم

لا خو نیازبیني په نکریزو لاس سرۀ کړی نۀ وو
لا خو هغې د ناوېتوب جوړه اغوستې نۀ وه
دا څۀ بې وخته مې سر مات شو د جانان کوڅه کښې
لا خو ما هم د لېونتوب جوړه اغوستې نۀ وه

چې جوړولے نۀ شۍ، مونږ له جومات مۀ ورانوئ!
د خداے د پاره په قلاره شۍ، سوات مۀ ورانوئ!
تکړه شۍ! خان نه اوس د کفر دا فتوې لرې کړئ
ما درته نۀ وې، چې ملیان په خېرات مۀ ورانوئ

ما کهٔ د کلی نه په تلو کښې بلها وخت واخستو
تا هم په شا شا راکتو کښې بلها وخت واخستو
چا چې زما د نوم تعویز به گرځوهٔ په غاړه
هغې زما پېژندگلو کښې بلها وخت واخستو

ما ته اختره! غربت دغه حق هم پرېښے نهٔ دے
چې په راتلو دې لږ موسکے شمه اؤ وخاندمه
په ښکلو سترگو کښې نیازبینه شان ادا خو وکړه!
چرته په دې کهٔ را ژوندے شمه اؤ وخاندمه

د دغو په نظر کښې زۀ کافر اؤ ابرهه سهی
خو دغه سور نشان به مې د کور وی هم د گور
تۀ کۀ ورته هر څۀ وے رقیبه! دغه ستا خوښه
نوم پښتونستان به مې د کور وی هم د گور

کۀ دېر هم په زړۀ کلک وی خو چې بل وطن ته درومی
په شا شا کور ته گوری اؤ په ور کښې په ژړا شی
خدائېکو د دنیا اؤ د عقبا نه مې زړۀ تور شی
بچی چې را ته کله په اختر کښې په ژړا شی

چا ورته کابل اؤ چا باګرام په ګوته کړے دے
مرګ ته ئې زمونږه پښتون قام په ګوته کړے دے
نهٔ کښېنی اوس بل تکے د دې سړی په ذهن کښې
دهٔ ته چا د یار د زلفو لام په ګوته کړے دے

کم به شی زما د لېونتوب اثر، دا نهٔ منم
چا ته به شی تیت زما خود سره سر، دا نهٔ منم
مهٔ کوه د خپلو سترګو یاره سپیناوے ما ته
ستا سترګې اؤ یاره د کرم نظر؟ دا نهٔ منم

زۀ به ئې د ګلو ډالۍ وګنم
ما له په خلوص يوۀ څو ازغي راکړه!
ما د غلامۍ پېغور نه وساته!
ما له احترام د يوۀ باغي راکړه!

لاس د ورورولۍ چرته کښې ور نۀ کړئ
دى ئې دپخوا نه ګورے زړونه ډک
بيا دربانديې کلے خبروى ساده!
بيا ئې د بنګړو نه کړل لاسونه ډک

غم چې څومره زور شى،دومره زور کښې شى
شپه را بانديې تېره په سور اور کښې شى
دا د مسافر سرى ارمان وى غټ
کاش چې د اختر شپه مې په کور کښې شى

ما ته څهٔ داسې هرکلے ؤوايه!
يؤ څو ګلونه په ور کېږده دغې!
زما د سر نه د غم پيټے کوز کړه!
زما سينه باندې سر کېږده دغې!

جانان چې ما وينی ، د خپلې کوڅې ور پورې کړی
لکه مېلمه پسې چې څوک د حجرې ور پورې کړی
ساقی! مننه ، په مستئ باندې شپه ويښه ساتې
شيخ خو پرېږده چې په هر چا د توبې ور پورې کړی

څهٔ بې وطنه څهٔ بې کوره اختر
خدايه! بې پلاره اؤ بې موره اختر
خدايه! په دې اختر مې مهٔ غولوه
غوارم اختر ، خو ډک له شوره اختر

زمونږ نه زيات به څوک د امن په معنا پوهيږی؟
مونږه خزان ته هم جامې د پسرلی اغوستی
ښکاری چې بيا چرته جگړه د پښتون د حق ده
دا سره توپی، اؤ سرې جامې چې مې لالی اغوستی

مونږ د غربت د لاسه بيا اختر بې کوره وکړو
د زړهٔ په زور مو د زړهٔ سره! څهٔ په زوره وکړو
کومه ادا چې مې د زړهٔ په کور قيامت راولی
را ته په سترگو کښې ئې هغه چل تهٔ گوره! وکړو

بس دے کنه! دا جدائی ډيره وه
پرېږ مې ده بيلتونه! بس دے ،کور ته ځم
خواره ورځ مو هسې هم بدل نهٔ شوه
اے د زړهٔ چاؤدونه! بس دے ،کور ته ځم

نفرت به خپل تر خپله ختم شی ، مینه به شی
کهٔ د ذهنونو په کورونو مو رڼا خوره شوه
مبارکی زما قبول کړئ، د رڼا ملګرو!
رڼا د خېره اوس په ټوله پښتونخوا خوره شوه
د (پښتو ادبی رڼا) خپرېدونکې مجلې
(رڼا) په کلیزه ۇلیکلے شو

د چا دړې اؤ د چا پاؤ برخه ده
زمونږه هسې د کړاؤ برخه ده
ساده له هر ځائے کښې جوړېږی دندې
د غریب څهٔ الغاؤ تلغاؤ برخه ده

بل کښې نقص را ؤکاږی مدام خلقه!
ځان ته نۀ ګوری چې نېغ يمه کۀ کوږ يم
ساده خدائېکو په ريښتيا باندې ساده دے
يار ته وائی چې زۀ تريخ يمه کۀ خوږ يم

ستا د ښائست هره خبره لوظ
زما غزل زما سندره لوظ
امن به وی د پښتنو په خاؤره
کوی سحر سپينه کونتره لوظ
ساده! که ښکلو دروغژن ګڼلو
مونږه بيا هم کړلو تر سره لوظ

دا يارانه خو داسې نۀ شی کنه!
چې زۀ په نیمه شپه سپوږمۍ ته ګورم
تۀ په رڼا ماښام خوبونه کوې

د ژوند سلګۍ مې په تادۍ ووتې
چې مې دزړۀ نه ستا يادونه لاړل
هاغه يادونه ، چې پرې زۀ ژوندے يم

تا ته حيران يم ، چې ستا څنګ تېرېږي
زما خو ياره! په مرۍ کښې نخښلی
بغېر له‌تا نه چې دودۍ خورمه زۀ

ګرانه! ته ښه‌وائې ، چې زه خپل نوم ليکلے نه شم
زما عادت نه دے، زه نوم په پانو نه ليکمه
زه چې نوم ليکمه ، نو خلقو له په زړونو ليکم

ما د قسمت سترګو ته دېر ؤکتل
خو چې ماښام کله تالی ته ګورم
نو په تالی کښې مې محنت وينمه

زه چې ئې تول مات کړم په خندا خندا
زړه کښې مې والله ګيلې را پورته شوې
مړه! خو دښکلو نه ګيلې اؤ زه؟

نن د وريځو نيت څۀ ښۀ نۀ ښکاری
جانانه! نن به سپوږمۍ نۀ ښکاريږی
تۀ داسې وُکړه! چې په بام ښکاره شه!

بس دغه يوُ سوال مې قبول کړه خدايه!
زما دښمن چې هر وخت شر خوښوی
تۀ ئې په امن اوُ امان مئېن کړې!

د جانان غمه! زۀ دې وُبائېللم
د جهان غمه! ستا مې وُمنله!
په تورو غرونو دې راواړولم

## لوظ

لکه چې مړ ژوند کښې ساه
لکه چې رنګ د سپرلی
لکه چې شور د ارمان
لکه تصویر د جانان
لکه تقدیر د انسان
لکه ملهم په پرهر
لکه رنګین شان ماښام
لکه منظر ستا د بام
لکه سکون د نظر
لکه موسم د وصال
لکه نیازبین غوندې خیال
جانانه! ستا نه ځار شم
زۀ دې په لوظ پایم

# ستا تصویر

د فنکار گوتو سپین کاغذ باندې رنګونه رابشکل
زما د زړهٔ موسم سپرلے سندره وائی
زهٔ اؤ تصویر ستا چې یوازې شو کوټه کښې کله
ما ته زما اؤ ستا د تېر دور خبره وائی

د زلفو سیوری کښې رنګین غوندې ماښام ښکارېږی
نیازبینو سترګو کښې ئې مینه اؤ خندا ځلیږی
په سورکو شونډو ئې د ژوند د خمار رنګ وینمه
په روڼ تندی باندې ئې ژوند ښکاری ، وفا ځلیږی

زهٔ چې دنیا نه ځان راټول کړمه اؤ دهٔ ته کښېنم
په لوی الله یقین کوه چې زما دا خوښه ده
زما تالا ترغه ژوندون کښې ګله نور څهٔ نشته
ستا دغه یوُ تصویر زما سره د ژوند نخښه ده

## قېصه

زما د ټول ژوندون قېصه راواخله!
زما زیږون نه زما مرګه پورې
زما پرون نه زما ننه پورې
د هر سحر اؤ د ماښام قېصه
د هرې ساه اؤ د هر ګام قېصه
د هر یؤ درد اؤ هر سکون روایت
د هر ازمېښت اؤ هر بدلون روایت
د انکار سر نه د اقراره پورې
د خوند سفر نه مې د داره پورې
منم چې ډېر زیات پړاوونه لری
خو کۀ ستا ذکر پکښې ؤ نۀکړے شی
زما د ژوند قېصه نیمګړې واخله!

## باچا خان رح

چې ئې هر ځاے د امن غېږ کولو
چې تشدد نه ئې انکار کړے وُ
چې ژوند ئې ځار کړو پښتنې خاورې نه
چې هرکلے ئې د سهار کړے وُ

چې د خانۍ نه ملنګ شوے وُ خوک
د خپل ځپلی اؤ خوار قام د پاره
چې د دې قام د حق تپوس ئې کوۀ
د هر واکمن اؤ هر سامراج نه یاره!

زۀ د خپل قام هر یوُ ځلمے اؤ پیغله
د هغه لوی بابا په ننګ ویښوُم
د پښتونخوا قبصه پیکه چې نۀ شی
بیا په تاریخ کښې هاغه رنګ ویښوُم

## یاد

”چې ته راياده شې، سپوږمۍ ته مخ کړم
چې زه در یاد شمه، ته څه ته ګورې؟“
اخوا ئې مخ کړو، بیا ئې رو شان ؤوې
”چې ته رایاد شې، زه خپل زړه ته ګورم“

## دلاسه

خوک شته؟ چې په دواړه مخه ښکول مې کړی
بیا مې په سینه پورې جوخت ؤنیسی
بیا را ته په مینه داسې ؤوائی
"بس کړه کنه!
ستړے شوې
نور مۀ ژاړه!"

## سپوږمۍ

زلفې لېلا خپلې په ماښام کښې راسپړدلې وې
ما چې ښنکه ؤليدې، نو ډېر شومه حېران
ؤ مې کتل بره د سپوږمۍ مخ ځلقېدونکی ته
بيا مې ترې نه ؤکړو، څۀ په دې ډول پرسان
وايه سپوږمۍ وايه! ښکلې تۀ يې کۀ جانان؟

سر تيټ کړو سپوږمۍ اؤ داسې رنګ راته ګويا شوله
حسن د دنيا دےيؤ بخرے د انسان
زۀ به درته څۀ په دې قسم خورم، زۀ به څۀ وايم
خپله ګواهۍ کښې ايت ګوره د قران

زهٔ دې د جانان په شان په ناز ناز ګرځېدے نهٔ شم
زهٔ دې د جانان غوندې په تق تق خندېدے نهٔ شم
زهٔ دې د جانان غوندې ګويا شم، دا توان نهٔ لرم
زهٔ دې د جانان غوندې ادا شم، دا توان نهٔ لرم
زهٔ دې د جانان غوندې منزل شم، داسې نهٔ يمه
زهٔ دې د جانان غوندې غزل شم، داسې نهٔ يمه
زهٔ کهٔ د ښائست ښکلے تصوير شم، هغه ښکلې ده
زهٔ کهٔ د ژوندون د لار تقدير شم، هغه ښکلې ده
زهٔ کهٔ په رنګونو کښې ځان ډوب کړمه، پيکه به يم
زهٔ کهٔ درته خومره ځان نزدې کړم، ناڅکه به يم
زهٔ څهٔ يم اؤ څهٔ به زما وړانګه، ورته نهٔ رسی
مړه! د ښائسته ګلونو ښانګه ورته نهٔ رسی

سترګو د جانان کښې دې د ورکو منزلونه دی
سترګو د جانان کښې دې سندرې غزلونه دی
سترګو د جانان کښې دې بې شوره ګفتارونه دی
سترګو د جانان کښې دې بې ميو خمارونه دی
سترګو د جانان کښې دې خوبونه تعبيرونه دی

سترګو د جانان کښې د مئینو تقدیرونه دی
ما سره دې یار په رنګې سترګې خماری نشته
ما سره دې یار په رنګې ؤنه چیناری نشته
ما سره دې یار په رنګې مینه اؤ یاری نشته
ما سره دې یار په رنګې زلفې خاماری نشته

پرخه چې په مخ ئې غورېدو ته بې قراره ده
دا د دې دنیا د ټولو ښکلو یؤ سرداره ده
ګل څنې ښېسته ده، لکه حوره حیاداره ده
څار شم <u>ساده</u>! ستا د لېونی زړګی واکداره ده

اوس فېصله ته ؤکړه، چې کوم یؤ په تا ګران دے؟
زۀ یم ډېره ښکلې اؤ کۀ ښکلے ستا جانان دے؟

14/04/2008 خادکزئ (چکدره) جلسې د پاره

## حسین شاه یوسفزے

د هر پښتون په غم اوتر پښتونه!
هر پښتون ستا دے د زړۀ سر پښتونه!
په لوظ کلک لکه د غر پښتونه!
د باچا خان رح غوندې ئې نر پښتونه!
تا دپښتون په سر تل ننګ کړے دے
دهر غلیم سره دې جنګ کړے دے
تا د پښتون د حق وینا کړې ده
تا ئې هر ځاے کښې ملګرتیا کړې ده
تورو تیارو کښې دې رڼا کړې ده
د پت خبره دې بیا بیا کړې ده
د پښتنو نه دې ګلونه جوړ کړل
تا ترې د غاړې امیلونه جوړ کړل

تۀ په سرو کښې ښۀ سرے ئې ګرانه!
منم پښتون ئې ننګیالے ئې ګرانه!
د سامراج سترګو کښې ازغے ئې ګرانه!
دې خړو دشتو له سپرلے ئې ګرانه!
په هر یؤ کلی، هر یؤ ښار باندې تۀ
د پښتون حق غوارې په جار باندې تۀ
ستا د پښتو، ستا د غیرت نه لوګے
ستا د خلوص اؤ محبت نه لوګے
لوګے لوګے ستا د الفت نه لوګے
لوګے شم ستا د شرافت نه لوګے
د اولس وراندې دا بیان کؤمه
زۀ ستا ملګرے یم، اعلان کؤمه
کله د سرو وینو سیلاب غوارمه؟
زۀ خو سپرلے غوارم، ګلاب غوارمه
ملګرو څکه انقلاب غوارمه
دا حسېن شاه درنه کامیاب غوارمه
پښتنو! خپله رتبه وپیژنئ
د سور بیرغ دا نخښه وپیژنئ

## سپرلے

ما نه تپوس مهٔ کوه!
چې سپرلے څهٔ رنګې وی؟
زهٔ خو چې هر څهٔ وینم
اؤ هغه لړ ښکلی وی
زهٔ ویم ، چې دا ښائست به ئې
تا نه اخستے وی پور
لکه سپوږمی، ته ګورم
اؤ بیا ستا مخ ته ګورم
لکه چینار وینمه
اؤ بیا ستا قد یادوُم
لکه چې ستا سترګې دی
نو سمندر مې یاد شی
لکه چې غړ دې اوُرم
نغمې مې غېږ کښې اخلی
لکه چې شونډې دی ستا
نو شرابونه هېر کړم
داسې سپرلے چې وینم
ستا لوپټه یاده کړم

## وطن

پرون ئې لاسو کښې تسبې وې
نن ئې لاسو کښې جام
د تيارو پښو کښې مې پروت ؤليدو
تصوير د سحر
د ژوند د لارې هاغه سر ته څمه
لکه کاڅے چې په خړپوسو ګرځی
لکه د مات کونتر د پر غوندې مې
هر ځل الوت ته ساه را ماته مې شوه
په دې پوهېږمه نهٔ

هماغه لاره ده ، هماغه منزل
خو بس په لاره کښې ښکېل شوے يم
د ژوندون توله فلسفه راواخلم
ورته څو ورځې اؤ شپې کښېناستمه
ډېرې مودې ؤشوې خو هغسې مې
په دغه شخړه سر خلاص شوے نۀ ؤ
يوه شپه دغسې په خيال کښې ورک ؤم
هسحر ستور ےيؤ نيازبين شان ستور ے
روښان روښانه دجبين شان ستور ے
راغلو اؤ ما ته ئې په غور کښې ؤوې
اوس ستا امام په مذهب نۀ پوهيږی
ستا د جومات نه امن کډه ؤکړه
اوس ستا لارښود نه ورکه شوې ده لار
د وطن هر واکمن شوکمار دے د قام
اوس ستا حجره لکه کندر پرته ده
د جرګې مشر دې پخپله غل دے
اوس ستا دکتور په رنځ پوهيږی کله
اوس ستا ځلمے پسته نمړی لټوی
پېغلې نه هېره د ميوند ټپه ده

اوس ستا سپرلی مرور شوی تا نه
ستا د ګلونو خاوره بم توکوی
کورونه شړ شول ، ادیرې ګڼې شوې
غرونه دې تیټ شول اؤ مېرې لوړې شوې
لږ خو پخپل ګرېوان کښې ؤګوره تهٔ
ستا جرګه ولې ملامته شوله ؟
ستا جومات ولې خپل جلال ؤبائېلو
ستا واکمن ولې جلاد شوے تا ته
د خپل سپرلی په درشل ؤدرېږه اؤ
بیا د ګلونو تخم ؤلټوه
ستا لاس کښې ګل کهٔ د ازغو تخم دے ؟

## تنقید

په منبر باندې خاموش د قام امام
په درشل د مېکدې تږے مېخوار
د نېستۍ بیاسته کښې ښکېل خوار مزدورکار
د عشرت غېږه کښې پروت نواب اؤ خان
خپلې لوږې سره نخښتے وږے تږے
خپلې لار نه بې لار شوی مشران
خپل مرام نه بې ځاے شوے ورک اولس
د خپل دېر واک سره بې واکه واکمن
د بې شمېره مالیارانو وران چمن
اؤ د فوخ سر کښې نشه د تخت اؤ تاج

صاحبان په دې کښې هم څهٔ داسې وائی ،
چې څهٔ به نهٔ وائې تهٔ
دا صاحبان زما په غږ باندې پښېمانه کړی ما
لکه یؤ څو چې کربلا کښې ملامت کړی حسېن
صاحبان ما پسې نهٔ ، ځان پسې ملنده کوی



د پېغور چغه شوله، مینه تماشه شوه ګرانه
زموږ خبره کۀ وره وه، خو قیصه شوه ګرانه

اوس مو په خان د دروغږنو کمان ؤشو، ګورنه
څۀ موږ شکور شو او څۀ خړه ائینه شوه ګرانه

ستا د کوم لوظ په داد اوښکې ؤچوې سترګو نه
چې د پښتون سلګۍ خندا نه ټکه شنه شوه ګرانه

بیا د پښتون د کور دېوال شو حوذي چوذي لوېږي
بیا دري په مخ سکارۀ څه حادثه شوه ګرانه

ساده! اودۀ شه میرات خو شیه! خوب ۀ درځي څۀ؟
سپوږمی زموږه په کټ واؤرېده، سته شوه ګرانه

hamna.publications@gmail.com